# له
# بي پيلوټه
# الوتكي
# د ځان ساتلو
# لاري
# چاري





# ډالۍ

د حق د لارې هغو ټولو شهیدانو ته چې ددې بې رحمه وسلې ښکار
شوي.

اللهم اغفر لکاتبه و قارئه

فهرست

**د الوتکو لنډ تاریخ** ........................................ 1
د الوتکو اقسام ........................................ 3
Boeing B-52 ........................................ 5
MC-130 cargo plane ........................................ 6
Lockheed AC-130 ........................................ 7
BLACK Hawk ........................................ 9
Apache AH-64 ........................................ 11
Mil Mi-24 ........................................ 13
MD 500 Defender ........................................ 15

**د بې پلوټه الوتکې تاریخ ........................................ 16**
آیا ډرون یوه فیصله کونکې وسله ده؟ ........................................ 19

**ایا له ډرون حملو نه ځان ساتل ممکن دي ........................................ 23**
ذهني امادگي ........................................ 23
د غلط فهمیو ختمول ........................................ 24
د ډرون مخنیوی څنگه ممکن ده ؟ ........................................ 25
د ډرون له استعمال نه د دښمن مقصد څه دی ؟ ........................................ 26

**ډرون څنګه کار کوي ؟............................................................ 27**

ایم کیو ۱ پریډیټر(MQ-1 Predator ) .................................... 28

ایم کیو ۹ ریپر (MQ-9 reaper) ......................................... 29

AGM-114 Hellfire(توغندی ) ........................................ 30

**د الوتکې کامرې............................................................ 32**

د طیارې په سر کې کامره................................................... 32

د ورځې کامره.............................................................. 32

انفرارډ کامره.............................................................. 33

تهرمل کامره .............................................................. 33

د رادار کامره.............................................................. 34

**د ډرون حملې مرحلې .......................................................... 35**

**اوله مرحله د جاسوس مرحله ........................................ 35**

د چپ په واسطه.............................................................. 35

د جاسوس له خوا په لیزر سره تعین ...................................... 36

د جاسوس له خوا په رنګ سره تعین ...................................... 36

له ځمکني جاسوس نه ځان ساتل ........................................ 36

**دوهمه مرحله هوائي ترصد او حمله........................................ 43**

په هوائي ترصد کې د هدف پېژندل............................................ 43

له هوائي ترصد نه ځان ساتل ............................................ 44

په هدف باندې حمله.......................................................... 47

له ډرون حملې نه ځان ساتل ................................................ 48

اول اصل  د وخت اهمیت پېژندل ........................................ 48
دوهم اصل د د هنګامي حالاتو تعین (ایمرجنسي) ......................... 49
د طیارو تعداد.................................................................. 50
دسیمې اهمیت ............................................................... 50
د ډلګی تعلق .................................................................. 51
د مطلوبو مجاهدینو موجودګي ............................................ 51
مراکزو ته د موټرو تګ را تګ ................................................ 51
دریم اصل د بهرون له نظره ځان پټول........................................ 52
یو څو هنګامي تدابیر ......................................................... 52
انفرادي تدابیر.................................................................. 52

**له بهرون حملو نه ده خپلو د مراکزو دفاع.............................. 53**

اوله نقشه........................................................................... 56
دوهمه نقشه........................................................................ 57

**د مرکز په سطحه احتیاطي تدابیر ......................................... 58**
**د سفر په صورت کې احتیاطي تدابیر** .................................. 59

**دریمه مرحله له حملې وروسته مرحله ................................ 62**

**جي پي ایس (GPS) .............................................................. 63**


**ټیلیفون.............................................................................. 68**

اللهم اغفر لکاتبه و قارئه


## د الوتکې لنډ تاریخ

له اولې ورځې نه د انسان دا خواهش وو چې دی هم د مرغانو په څېر والوزي ،په لومړیو کې به یې د حیوانانو له وزرونو نه په استفادې د الوتلو کوشش کاوه ، خو کامیاب نشو همدې ناکامی د انسان د الوتلو خواهش نور هم مظبوطولو چې تر کامیابی یې راورساوو .

که څه هم د الوتکې ایجاد کونکې دوه ورونه اروېل رائټ او ویلبر رائټ ګڼل کیږي ،



اروېل رائټ



ویلبر رائټ

خو ثابت وزر لرونکې الوتکې نظریه په ۱۷۹۹ کی جارج کیلی وړاندې کړې ده نوموړي تر ۱۸۵۰ پورې د ګلایډر په نوم الوتکې طرحه ډیزائن کړه.



جارج کیلي

د ۱۹۰۳ م په دسمبر میاشت کي دواړو ورونو له ټولو پنزونو سره د خپلې الوتکې د لومړي پرواز لپاره د دسمبر ۱۴ ورځ وټاکله چې له بدمرغه دا هڅه یی کامیابه نشوه ، دوی د دویم ځل هڅې لپاره د دسمبر ۱۷ ورځ وټاکله چې د لومړي ځل



لپاره یی خپلې یو ماشینه اولوتکې ته پرواز ورکړ او د تل لپاره یې د الوتونکو انسانانو په سر کې خپل نوم ثبت کړو .

دوی له دې وروسته خپلې الوتکې ته افقي سکان یاهغه اله د الوتکې په مخه کې وراضافه کړه چې له شاه څخه مخې ته یا یې برعکس توازن برابر ساتي, یوکال وروسته یې یو بل عمودي سکان د الوتکې په شا کې ځای پرځای کړ چې په مرسته یې وکړای شي الوتکه یو او بل لوري ته متمایله کړي او هم په یو لازم جګوالي کې الوتنه او پرواز وکړي, په دې سربېره دوی بریالي شول چې له دریو اصلي خواوو (اوږدوالي, سور او جګوالي) د الوتکې یو ډول والی یا موازنه وساتي, او نورې کنترولېدونکې الې یې هم د الوتکې په اره بڼه کې ځای په ځای کړي.

د الوتکې د چټکتیا او تېز تګ لپاره یې یو ګازویلي څلور سلنډره ماشین څخه چې 12 اس ځواکه طاقت یې درلود استفاده وکړه, او د وزن دکمولو لپاره یې د الوتکې په توکو کې له المونیم څخه کار واخیست

د رایټ ورونو د خپلې ازمویني الوتنې لپاره په شمالي کارولینا کې د Outer Banksسیمه وټاکله, دا داسې سیمه وه, چې د اوسپنې له پټلیو او سړکونو څخه لرې وه او دسمندري بېړیو له تم ځایونو څخه یې ډېر ښه مناسب واټن درلود.رایت وروڼه په لومری ازمایش کی17 دسیمبر1903(دا اوتکه اوس مهال واشینګتن ډي سي هوایی موزیم کی ده( د دوی دوه وزرې الوتکې, په لومړنۍ ازموینه کې چې ویلبر رایټ

چلوله, د 120 فټه واټن په 12 ثانیو کې طی کړ, او په اخرنۍ او اوږده الوتنه کې چې بیاهم ویلبر رایټ چلووله, ددوی الوتکې 852 فټه واټن په 59 ثانیو کې وواهه.

په نړۍ کې د الوتکې دا لومړنی پیلوټ ځوانیمرګ شو او په 1912 م کال د می په دېرشمه ومړ.

ورور یې (ارویل) د 1948 م کال د جنوري په دېرشمه د 72 کلنۍ په عمر مړ شو.

## د الوتکو اقسام

د بشر په لاس جوړو شویې الوتونکې وسیلې په دوو ټولیزو ډولونو ویشل شوې دي .
(۱) هوایی الوتکې (هغه وسایل چې په هوا کې الوزي )
(۲) فضایی الوتکې ( هغه طیارې چې په فضا کې الوزي)
مخکې لدې چې د الوتکې په بیلابیلو ډولونو او اړخونو وغږیږو لومړی به د الوتکې د سپیډ یا چټکتیا په اړه بحث وکړو د سپیډ په نظر کې نیولو سره الوتکې په څلورو ډوله دي.
(۱) د آواز(صوت) له چټکتیا څخه په منډه کې کمزورې الوتکې .
(۲)د آواز(صوت) له چټکتیا سره په منډه کې مساوي الوتکې .
(۳)د آواز(صوت) له چټکتیا څخه په منډه کې تیزې الوتکې .
(۴)د آواز(صوت) له چټکتیا څخه په منډه کې ډېرې تیزی الوتکې.
ددې ټولو الوتکو توپیر په دې کې دی چې د غږ له چټکتیا څخه څومره تیزې دی یعني په ثانیه کې ۲٦٨ متره واټن پرې کولای شي کنه .

## د وزرونو په نظر کې نیولو سره د الوتکو ډولونه

د وزرونو په نظر کې نیولو سره الوتکې په دوه قسمه دي

(۱)ثابت وزر لرونکې الوتکې = لکه عامي مسافر وړونکې الوتکې

(۲) څرخیدونکي وزر لرونکې چورلکې = لکه هلیکوپټر

## د پیلوټ یا ورسره ناستي عملې په نظرکې نیولو سره الوتکې په دوو ټولیزو ډلو وېشل شوې دي.

(۱)پیلوټ لرونکې الوتکې

(۲)بې پیلوټه الوتکې

( چې دلته زموږ بحث له دویم قسم الوتکو نه دي . خو د لا ډېر پوهاوي لپاره به د څو پیلوټ لرونکې الوتکو په اړه هم څه نا څه معلومات وړاندې کړو. )

## Boeing B-52

د بي دوه پنځوس بم غورځونکې الوتکې له نوم سره تقريبا ټول افغانان اشنا دي ، دا الوتکه چې په ۱۹۵۰ کال کې د امريکا هوايی ځواک جوړه کړې ، او په ۱۹۵۲ کې يې خپل لومړنی پرواز ترسره کړ د ۷۰۰۰۰ پاؤنډه (۳۲۰۰۰ کيلو ) وزني وسلې ليږدولای شي او کولای شي چې ۸۰۰۰ ميله (۱۴۰۰۰ کيلومټره ) بغير له دوهم ځل په هوا کې له تېل اچولو مزل وکړي . الوتکه په ۸ ټربوجټ انجنونو باندې سمباله ده .



- ۸۵ الوتکې يې تر استعمال لاندې دي .
- د اټومي وسلو د ليږدولو وړتيا لري خو تر اوسه يې د جګړې ميدان ته ندي وړې
- عمله : ۵ نفره : د الوتکې کپتان ، پيلوټ ، د رادار لارښود ، لارښونکی او مخابره چي افسر ان
- د وزرونو اوږد والی ۱۸۵ فټه (۵٦ متره ) پراخوالی ۱۵۹ فټه (۴۸.۵ متره) جګوالی ۴۰ فټه (۱۲.۴) متره وزن يې ۱۸۵۰۰۰ پاؤنډه (۸۳۰۰۰ کيلو )
- چټکتيا په ساعت کې ٦۵۰ ميله

- اوسني ماډل يې کولای شي چې په  ليزر رهبري کيدونکي بمونه وغورځوي.

اوس يې نور پرمختلي ماډلونه هم جوړ شوي دي امريکا يې تر ۲۰۴۴ پورې د استعمالولو پلان لري .

## MC-130 cargo plane

له  ۱۹٦۴-۱۹٦۷ پورې د امريکا په کليفورنيا ايالت د( Lockheed Air Services (LAS  له لورې جوړه شوې ده چې وروستی ماډل يې په ۲۰۱۱ کې MC-130J  تيار شوي هره يو يې له ٦۵ نه تر ۷۰ ميلونه ډالرو پورې ارځښت لري

دا الوتکه چې پوځيانو ته د مهماتو لکه ټانګونه او وسلې رسولو لپاره استعماليږي، په هوا کې نورو الوتکو د تيل ورکولو ځانګړو ځواکونو ته د مرستې رسول،او نورو موادو د ليږدولو لپاره ډيزاين شوې ده چې د امريکا د ځانګړو عملياتو د ډلې تر استعمال لاندې وي .



د ننګرهار په اچين کې د بمونو مور ( MOAB)  چې ۳۰فټه اوږدوالي او تر ۱۱ ټنو پورې وزن يې درلود هم د همدې الوتکې په مټ وغورځول شو .

- اوږدوالی ۹۹ فټه ۹ انچه (۳۰.۴ متره )
- د وزرونو تر منځ فاصله ۱۳۲فټه ۷ انچه (۴۰.۳ متره
- جګوالی ۳۸  فټه ٦ انچه (۱۱.۴ متره )

- خالي وزن ۷۲۸۹۲ پاؤنډه ( ۳۲۸۰۱ کیلو)
- تر ۱۵۵۰۰۰ پاؤنډه (٦۹۷۵۰ کیلو ) پورې وزن پورته کولای شي
- ۴ ټربو جټ انجنونه پکې لګېدلي چې هر یو یې د ۴۹۱۰ آس ځواک خاوند دی
- رینج ۲۷۰۰ میله (۴۳۴۴ کیلومټره )
- سپیډ ۳۰۰ میله په ساعت کې
- تر ۳۳۰۰۰۰ فټه (۱۰۰۰۰) پورې لوړ پرواز کولای شي .
- عمله : ۵ نفره : د الوتکې کپتان ، پیلوټ ، د راډار لارښود ، لارښونکی او مخابرهچي افسر ان
- له عملې نه بغیر د ۷۷ نفرو د لیږدولو صلاحیت لري .



MC 130 نورو الوتکو د تیل ورکولو

---

### Lockheed AC-130




لاک هیډ اې سي ۱۳۰ په درنو وسلو سمبال الوتکه ده چې په افغانستان کې د امریکایی یرغل په لومړیو شپو او ورځو کې د سپیشل فورس له لورې استعمالیده چې ډېر مجاهدین او

عام خلک یې شهیدان کړل په قلعه جنګې باندې بمبار ، هلمند ، کندهار کندز او او مزار شریف غرض دا چې په ټول هیواد کې یې د شپنیو عملیاتو په وخت زیات مجاهدین شهیدان کړي.

دا الوتکه چې په یو M102 howitzer (۱۰۵) ملي متري توپ ( یو نیم ټن وزن او ۱۱۵۰۰ متره رینج یې دي ) ، یوه L/60 Bofors cannon ( ۴۰ ملي متره توپ)
او یو ۲۰ ملي متري توپ M61 Vulcan cannon باند ې سمباله ده .
اکثر په شپنیو عملیاتو کې استعمالیږي چې په FLIR او شپنیو کامرو یا نایټ ویژن باندې سمبالې دي .

- عمله ۱۳ نفره : ۵ افسران ( پیلوټ ، معاون پیلوټ، لاربښود ، کپتان او مخابره چي .
  عام عسکر ۸ نفره (انجینر ، تخنیکار ، د حرارت درلودنکو موجوداتو موندونکی ، له فایر ورسته د توپونو ډکونکی ،۴ ډزې کونکي )
- اوږدوالی ۹۷ فټه (۲۹.۸ متره )
- د وزرونو پراخوالی ۱۳۴ فټه (۴۰.۴ متره)
- جګوالی ۳۸ فټه ٦ انچه (۱۱.۷ متره)
- له وسلو سره وزن ۱۲۲۴۰۰ پاؤنډه(۵۵۵۲۰ کیلو)
- سپیډ ۳۰۰ میله په ساعت کې
- ۳۰۰۰۰ فټه (۹۱۰۰ متره ) لوړ پرواز کوي .

## بلیک هاک BLACK Hawk




UH-60 Black hawk د امریکایی کمپنی سیکور سکی لخوا په ۱۹۷۴ کې جوړه شوې او نړی ته په ۱۹۷۹ کال کې ورمعرفي شوه.UH-60 Black hawk د امریکایی پوځ لخوا تر ټولو ډېره استعمالېدونکې الوتکه ده.

- ۱۷ نفرو سره سره سامان هم نقل کولای شي.
- عمله : دوه پیلوټان او نښه ویشتونکي.
- ۱۹.۷٦ متره اوږد او ۵.۳ متره جګ دی.
- د لویې پنکې اوږدوالی ۱٦.۳۸ متره
- د وړې پنکې اوږدوالی ۱۷ فټه
- وزن ٦۱۹۱ کیلو ګرامه
- ۱۰٦٦۰ کیلو اضافه وزن لېږدولای شي.
- ۲۹۵ کیلومټره په ساعت کې مزل کولای شی.

- وسلې: په دروازو کې دواړه طرفو ته یوه یوه M134 Minigun چې په یوه دقیقه کې ۲۰۰۰-۶۰۰۰ پورې ډزې کولای شي، Hill fireمزائل چې د ډرون،جټ، کشتی او ټانک له لارې فایر کیدای شي، Stinger missile سټینګر، او واړه راکټونه.
- دا الوتکي د مختلفو چارو د ترسره کولو وړتیا لري لکه ځانګړو عملیاتو ته د ځواکونواو مهماتو رسول، د زخمیانو انتقال،دملکي او کاروباري خلکو لپاره هم جوړې شوې دی.
- تر اوسه پورې ۴۰۰۰ دانې جوړې شوې چې تر ۲۰۰۰ زیاتې یې یواځې د امریکایي پوځ ملکیت دي.
- هره یوه یې تر ۲۱ میلیونه ډالرو پورې قیمت لري.

## Apache AH-64



د امریکا له لوري جوړه شوې یوه حمله کونکې یا گن شپ هلي کاپټر دی، چې په ۱۹۷۵ کې د بویینگ ډیفنس سپېس اېنډ سیکورټي کمپنی لخوا د امریکایی پوځ لپاره جوړه شوه،له امریکا سره سره یې برطانیه،جاپان،اسرائیل،نېدرلېنډ،سینگاپور او متحده عرب امارات استعمالوي. امریکا په عراق او افغانستان کې استعمال کړې او اسرائیل یې بیا په غزه او لبنان کې استعمالوي.

- عمله:پیلوټ او معاون پیلوټ

- اوږدوالی ۱۷.۷۳ متره
- پنکه ۱۴.٦۳ متره
- جګوالی ۳.۸۷ متره
- خالي وزن ۵۱٦۵ کیلوګرامه
- له وسلو سره وزن ۸۰۰۰ کیلو ګرامه
- د وزن اوچتولو آخری حد ۱۰۴۵۰ کیلو ګرامه
- سپیډ ۳۷۵ کلومټره په ساعت کې
- په یوار پرواز کولو سره کولای شي ۱۹۰۰ کیلومټره سفر وکړي بغیر له تېل اچول.
- په منټ کې د پورته کېدلو اندازه ۲۵۰۰ فټه
- د پرواز آخري حد ٦۰۰۰ متره
- دوه انجنه که یو خراب شي یا ولګیږي، دوهم انجن کولای شي الوتکې ته پرواز ورکړي.
- د طیارې په پوزه کې دوې کمرې یوه د شپې او بله FLIR لګېدلې دي.
- وسلې:یو ۳۰ ملي متره توپ سره له ۱۲۰۰ مرمیو تر الوتکه لاندې،څلور دمزائلو یا بمونو تړلو ځایونه چې AGM 114 HYDRA ,AIM STINGER ,HILLFIRE راکټونه ورپورې تړل کېدایشي.
- تر اوسه پورې ۲۰۰۰ زیاتې جوړې شوې.

- هره یوه یې تر ۳۵ میلیونه ډالره پورې قیمت لري.

Mil Mi-24



یوه لویه ګنشپ او ټرانسپورټي ه الوتکه ده. چې له دوو پیلوټانو سره کولای شي ۸ نفره ولېږدوي. په ۱۹۶۹ کې Mil Moscow plane planet لخوا



ی روسي هوایی ځواک لپاره جوړه شوه، د روسانو له لورې په افغانستان کې ډېره زیاته استعمال شوه،لومړی الوتکه د ۱۹۷۹ په اپرېل میاشت کې راولېږل سوه ترڅو د مجاهدینو په خوندی ځایونو بمبار وکړي په ۱۹۸٦ کې افغانانو ددې طیارې ضد ستېنګر مزائل تر لاسه کړل چې د

طیارې د انجن په گرمائش پسې تلل. له روسیې سره سره یې امریکا،پاکستان،افغانستان،چین ایران،هندوستان او.... استعمالوي.

- عمله: دوه پیلوټان او یو افسر
- د ۸ اضافي نفر یا ۴ زخمیان او یا هم ۲۴۰۰ کلو اضافي بمونه او مرمیو د لېږدولو توان لري.
- اوږدوالی ۱۹.۷۹ متره
- جگوالی ٦.۵ متره
- خالي وزن ۸۵۰۰۰ کیلو
- په وسلو بار وزن ۱۲۰۰۰ کیلو
- دوه انجنونه که یو خراب شي دوهم کولای شي طیارې ته پرواز ورکړي.
- سپیډ ۳۳۵ کیلومتر په ساعت کې.
- د پورته کېدلو آخري حد ۴۹۰۰ متره
- وسلې:یوه ۱۲.۷ ملي متره دهشکه ۱۴۰۰ مرمیو سره، دوه میله دهشکه تر طیارې لاندې له ۷۰۰ مرمیو سره، په کهړکیو کې دوې پیکاوې،دوه ۲۵۰ کیلو بمونه، واړه راکټونه او د څلور د ټانگ ضد مزایل.
- هره یوه یې ۱۲ میلیونه ډالره قیمت لري.

- تر اوسه پورې ۲٦۰۰ جوړې شوې دي.

### MD 500 Defender

MD 500 د مختلفو غرضونو لپاره استعمالېدونکې کوچنی الوتکه ده،د ویتنام له جګړې وروسته امریکایانو یوې داسې طیارې ته ضرورت وي چې په مختلفو بخشونو کې ورنه کار واخلي او هم یې مصرف کم وي،ددې غرض لپاره Hughes Helicopters کمپنی MD 500 Defender په ۱۹۷٦ کې جوړه کړه چې کولای یې شول او وسلې او افراد ولېږدوي.تر ټولو لوی خریدار یې کېنیا وه ځکه دوي ته د ګنشپ الوتکې په قیمت باندې دوې MD 500 الوتکې لوېدلې چې هم یې کولای شول ټانګونه او موټر له منځه یوسي او هم د افرادو د انتقال لپاره ورنه کار واخلي.

- عمله:یو پیلوټ او یو نبنه ویشتونکی(یو پیلوټ هم کافي ده)
- د ۵ افرادو د لیږدولو توان لري.
- اوږدوالی ۷.۱ متره
- جګوالی ۲.۵۹ متره
- خالي وزن ۵۳٦ کیلو ګرامه
- د وزن اوچتولو اخری حد ۱۳٦۰ کیلو ګرامه
- یو انجن
- سپیډ ۲۵۷ کیلو متره په ساعت کې

- د پرواز آخري حد ۴۲۰۰ متره
- په دقیقه کې د پورته کېدلو اندازه: ۱٦٥۰ فټه

وسلې: څلور د ټانګ ضد راکټونه یا دوې M134 Minigun سره له مرمیو یا ۴ سټینګر مزایل او یا هم دوه د وړوراکټونو ویشتونکې عرادې.

---

## د بې پلوټه الوتکې تاریخ

په جګړه کې د جاسوسي الوتکو استعمال د لومړی ځل لپاره د امریکا له طرفه د سړې جګړې په مهال د روس په خلاف وشو ، ددې جاسوسې طیارې نوم یوټو وو ، د روس په خلاف یې لومړی پرواز له پیبنور سره نږدې د بډه بئر له هوايي اډې نه په ۱۹٦۰ کې وشو ، چې په بدل کې یې روسانو پر پاکستان د اټوم بم اچولو اختار ورکړه . ددې الوتکې تر ټولو لویه کامیابي په کیوبا کې د روسي مزائلو عکسونه اخیستل وو چې نړۍ یې د اټومي جګړې پر خوله ودروله .

خو دا الوتکه بې پیلوټه نه وه چې کولای یې شول یواځې د څو ساعته لپاره پرواز وکړي ،صرف ساده عکسونه یې اخیستل ویډیو یې نشوه

کولای ، ددې خبرې امکان وو چې کوم هدف نن پر یوه ځای دی ممکن سبا یې ځای بدل شي ، د پیلوټ د مرگ یا نیول کېدو خطره هم وه.

د پیلوټ د مسئلې د حل په موخه په شپیتمه لسیزه کې امریکا د جاسوسي سټلایټ انتظام وکو خو دې هم کولای شول چې صرف ساده عکسونه واخلی او تر مځکې پورې ددې عکسونو رسیدل هم ډېر وخت غوښت، دې سټلایټ به دا عکسونه په فضا کې نشرول چې ورسته به بیا د یوې ځانگړې الوتکې په مټ ترلاسه کیدل .
په ۱۹۸۲ کې اسرائلو په لبنان کې د روسي ساخته مزائلو او رادار سسټم د موندلو او له منځه وړلو په موخه د (pioneer) پائی نئر په نوم جاسوسي الوتکه جوړه کړې ددې الوتکې خصوصیت داوو چې د تصویر اخیستلو پر ځای یې په ژوندی بڼه ویډیو خپل مرکز ته لېږدوله، اسرائلو له جاسوسي طیارو سره جنگي الوتکې هم د لبنان فضا ته ولېږلې لبناني پوځ په دې گمان چې گواکي جنگي الوتکې دي خپل رادار سسټم فعال کړ ، جاسوسي طیارو وکولای شول چې ددې رادار سسټم  ویډیو جنگي الوتکو ته ورکړي او هغوی د لبنان رادار او مزائل سسټم له منځه یووړ  دا د جگړې په تاریخ کې یو انقلابي بدلون وو.

د جاسوسي طیارو په دې ابتدائي دور کې ډېرې طیارې امریکا او اسرائلو جوړې کړې ، خو دې ټولو کولای شول د محدود وخت لپاره په یوه محدوده فضا کې پاته شي ، یو داسې الوتکې ته ضرورت وو چې بې له پیلوټه وکولای شی والوزي ، په هوا کې د ډېر وخت لپاره پاته شي ، د ډېر واټن د وهلو صلاحیت ولري او وکولای شي خپل مرکز ته په ژوندی

ښه(live) ویډیو راولیږي . ددې ټولو چارو لپاره دا ضروري وه چې طیاره له مصنوعي سپوږمکۍ( سټلائټ ) سره وصل شي .

امریکا خپله ډرون طیاره( ایم کیو ۱ پریډیټر( MQ-1 Predator) په دې ټولو صلاحیتونه سمبال کړه او لومړی استعمال یې د بوسنیا په جنګ کې وشو(دې جګړه د سربیا او بوسنیا تر منځ له ۱۹۹۲ نه بیا تر ۱۹۹۵ پورې دوام وکړ چې تر ۱۰۰۰۰۰ د زیاتو انسانانو ژوند یې واخیست) پدې جګړه کې ډرون صرف د جاسوسی تر حده پورې محدوده وه ، د ډرون استعمال د جاسوسي او خپل هدف د ویشتلو لپاره د لومړي ځل لپاره په یمن کې د شهید شیخ ابو علي الحارثي په موټر باندې شوه.


شهید شیخ ابو علي الحارثي

په افغانستان کې د ډرون لومړي حمله د امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد په موټر باندې په ۲۰۰۱-۱۰-۷ کې ترسره شوه د امریکایي پوځیانو په خبره، له بې پیلوټه الوتکې توغول شوی Hellfire توغندی د ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله د ساتونکو پر موټر ولګېد، چې څو تنه ساتونکي یې شهیدان شول؛ خو پخپله ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله له بریده روغ ووت. دا الوتکه اوس د امریکا په یوه میوزیم کې ایښول شوې ده. دې الوتکې ته د (Predator No. 3034) نوم ورکړل شوی دی. لدې وروسته د ډرون استعمال تر افغانستان ، پاکستان ، عراق ، صومالیه او سوریې وغیره پورې پراخ شو.

## آیا ډرون یوه فیصله کونکې وسله ده؟

فیصله کونکې وسله هغه وي چې په یو وار  مخالف طرف ته دومره زیان ورسوي چې په لږ وخت کې یې جبیره کول ناممکن وي ، پدې شکل سره ددې وسلې لرونکی طرف  خوا درنه شي او جګړه دده په حق تمامه شي ، په تاریخ کې ډېرې فیصله کونکې وسلې استعمال شوې دي ، موږ به یو نظر دې اړخ ته هم واچوو ،

### جنګ جسر او فیلان

د حضرت عمر  رضی الله عنه  د خلافت په دور کې له ایرانیانو سره په جګړو  کې یو د جنګ جسر ( د پل جګړه ) په نوم یادیږي،په دې جګړه کې د مسلمانانو امیر ابوعبید الثقفي وو او د ایراني لښکر مشر بهمن جادویه وو نوموړي ابو عبیده ته وویل چې تاسو تر فرات را اوړئ که موږ درشو هغه دا د مسلمانانو بې همتي وبلله چې په دښمن پسې دې ورنشي او د عمر رضی الله عنه دا خبره یې له یاده ویسته چې ورته د رخصتي په وخت کې یې ورته کړې وه(چې ته د مکر او خیانتونو ځمکې ته روان یې) او تر سیند پورې ووت. خبر پوره واقعه د تاریخ په کتابونو کې شته. کله چې جګړه خپل اوج ته رسېدلې وه ایرانیانو خپل جنګي فیلان د جګړې میدان ته داخل کړل . عرب او د هغوی آسونه لدې مخکې له فیلانو سره اشنا نه وو تر ۴۰۰۰ پورې مسلمانان شهیدان شول پخپله ابوعبیده رضی الله عنه د یو فیل تر پښه لاندې شو او پوښتۍ یې ماتې شوې.له ده وروسته یو په بل پسې ٦ امیران نور هم شهیدان شول ۷م امیر مثنی فارسه وکولای شول مسلمانان له

دې جګړې نه پر شا کړي او تر مدينې پورې خپل لښکر په مات او ګوډ حالت کې ورسوي.... مثنی دوهم وار وکولای شول د سیند دې غاړې ته د بويب په مقام کې ایرانیانو ته ماتې ورکړه... د فیلانو حل یې دا راویست چې فیلان به یې په سترګو او سونډ په نیزو وهل چې په دې سره به فیلان وترهیدل او د خپلو صفونو په منځ کې به یې ګډوډی خپروله .

## د دیبل جنګ او منجنیق

محمد بن قاسم پر سندھ د حملې په مهال د دیبل ( له اوسنی کراچي نه ۳۷ میله لرې یو زوړ بندر دی ) پر بندر باندې چې هغه وخت د سندھ پلازمینه وو ، د منجنیق لویې ډبرې(کاڼي ) وویشتې چې یوه یې د لوی مندر پر سر ولاړ بیرغ باندې ولګېده ، دا هندوانو بدشګوني وګڼله او تسلیم شول . پدې جګړه کې منجنیق د یوې فیصله کونکې وسلې په حیث پاته شو .

## صلیبي جګړې او د اور کټوې

د صلیبي جګړو پر مهال صلاح الدین ایوبي په منجنیق کې له ډبرو سره د اور کټوې هم غورځولې کله چې به یې دا کټوي د دښمن د کلا په لور وویشتې هلته له لګیدو ورسته به ماتې شوې او په قلعه کې به یې اور بل کړ . چې صلیبیانو ته یې زیات تاوان ورساوو، دا په نورو جنګونو کې هم د یو فیصله کونکې وسلې په طور ثابتې شوې .

## د ام درمان جګړه او ماشیندار

ماشین دار (ضربه کونکې وسله لکه ثقیل، دهشکه وغیره ) په نولسمه او د شلمې پېړی تر اولو پورې د یوې فیصله کونکې وسلې په حیث پاته وه . دا رنګه یو جنګ د مهدي سوډاني او د برطانوي فوځ تر منځ د

ام درمان په مقام باندې وشو چې د مهدي په زرهاوؤ مجاهدين د ماشيندار په خلاف د دفاعي حکمت عملي نه درلودلو له وجې په شهادت ورسيدل .

### لومړی نړيواله جګړه او توپ

په لومړی نړيواله جګړه کې له ماشيندار سره سره توپ هم د يوې فيصله کونکې وسلې په حيث ثابت شو چې د اروپا په ميدانونو کې دواړو طرفونو هيڅ پرمختګ نشو کولای په نتيجه کې برطانيه او فرانسه يو طرف او جرمنی ددوي په مقابل کې خندقونه وکيندل او کېناستل ، په دې جګړه کې ټانګ بلاخره د ماشيندار ضد وخوت.

### دويمه نړيواله جګړه ټانګ او اټوم بم

په دويمه نړيواله جګړه کې جرمني پوځيانو ټانګ په داسې مهارت سره د يوې فيصله کونکې وسلې په توګه استعمال کړ ، چې د اروپا او روس ډېرې سيمې يې ونيولې ، بل خوا امريکا جاپان ته د ماتې ورکولو په موخه اټوم بم د يوې فيصله کونکې وسلې په توګه استعمال کړ.

### د روس خلاف د افغانانو جهاد او روسي هليکوپټر

د مجاهدينو په خلاف روسي څرخکې يوه فيصله کونکې وسله وه خو د راکټ لانچر او سټنګر مزائلوپه راتګ سره دې وسلې زيات کار ونکړ.

### اوسنی جهاد او ډرون

د مجاهدينوپه خلاف د ډرون حملې شروع اسرائلو له فلسطينه کړې ، په دې حملو کې يې د فلسطيني مجاهدينو مشران په نښه کول ، شيخ احمد ياسين عرفات هم پدې کې شامل وو . لدې کاميابي وروسته

امریکایانو ډرون د لومړي ځل لپاره د بوسنیا په جنګ کې استعمال کړه ، دا اول وار وو چې امریکایانو ته د جګړې د تصویرونو پر ځای په ژوندی بڼه ویډیو رسېدله ، دې پرمختګ ته د جګړیزو چارو کارپوهان په عسکري دنیا کې د یو انقلاب په سترګه ګوري .ددې انقلاب په مټ امریکایانو وکولای شول چې د جګړې په میدان کې د دښمن په اړه پروخت او سم معلومات ترلاسه کړي ، بیا د یمني مجاهدینو قائد شیخ ابو علي الحارثي په موټر باندې د یمین په یوه صحرا کې د ډرون په مټ حمله وشوه چې پدې کې شیخ ابو علي الحارثي په شهادت ورسید ، دا د مجاهدینوپه خلاف د ډرون لومړی استعمال وو.

خلاصه داچې تر اوسه پورې ډرون په دې جګړه کې د یوې فیصله کونکې جګړې حیثیث لري چې د مجاهدینو په افرادي قوت کې مسلسل د کمی سبب ده ، په ډرون حمله کې د مجاهدینو مشران (شهید امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور ، شهید بدر الدین حقاني ، شهید مولوي سنګین فاتح او ...... ) عام مجاهدین او زیات شمېر ملکي خلک شهیدان شوي او کیږي ، لدې سره مجاهدینو او ملکي خلګو ته د دروند مالي زیان سبب هم کیږي ، د ډرون حملې د خطر له وجې مجاهدین خپل ډېری جهادي کارونه مؤخر یا معطل کوي ، لدې سره سره یې په هغو سیمو کې چې د مجاهدینو تر تسلط لاندې دي د ملکي خلکو ژوند تریخ کړی ، که په دې صورت کې موږ د ډرون په خلاف د یو دفاعي حکمت عملي په جوړولو کې کامیاب نشو او ډرون همداسې خپل کارونه کوي لرې نده چې امریکایان به په خپلو هغو مذمو مقاصدو کې په جزوي توګه کامیاب شي د کومو د حصول لپاره چې یې ډرون حملې شروع کړې دي.

## ايا له ډرون حملو نه ځان ساتل ممكن دي

زموږ په نظر د ډرون حملې په خلاف دفاع او ددې د حملې له وجې پېښېدونكي نقصانونه د امكان تر حده كمېدلاى شي  لكه څنګه چې مجاهدين د ډرون حملو نښه وي نو دا ضروري ده چې مجاهدين په خپله ددې مخنيوى وكړي  ، ډرون يو داسې فيصله كونكې وسله وګڼي چي له وجې يې دوى ته دومره زيان رسيږي چې له وجې يې جهادي سلسله د سستى ښكار كيداى شى  ، نه يواځې  دا بلكې ډرون د اوسنى جګړې يوه مستقله حصه وګڼي  ، د ډرون په اړه خپلې غلط فهمى ختمې كړي او د حل لپاره يې په ذهني توګه تيار شي .

## ذهني امادګي

ددې مسئلې د حل لپاره تر ټولو لوى ضرورت په ذهني توګه تيارى دى، زموږ رايه ده چې مجاهدين كوم شى اهم او ضروري وبولي د هغه د خپلولو او زده كولو لپاره هر ممكن كوشش كوي  مجاهدينو چې بارودو ته اهميت وركړ د مهارت يې  پكې حاصل كو، مګر مجاهدينو ډرون ته هغه اهميت ورنكړ چې وركول په كار وو . شايد له همدې وجې يې تر اوسه حل نشو پيدا ، ضرورت ددې خبرې دى چې مجاهدين ډرون يو نوې طريقه وګڼي او د ناكامولو لپاره يې خپل ټول صلاحيتونه په كار واچوي .  د بعض مجاهدينو له رويو خو داسې  معلوميږي لكه دوى چې د جهاد لپاره راغلي وي خو د جنګ لپاره نه ، يعني جهاد د عبادت په نيت كوي خو پدې لار كې له عسكري نظره احتياطي تدابير نه عملي كوي ، مجاهدينو ته په كار دي چې د ډرون جنګ د يو مستقل جنګ په حيث واخلي كنه دا به دومره نقصان ورته ورسوي چې تر ډېره وخته به يې ازاله ممكنه نه وي . د هر شي مقابله ممكنه ده خو ددې لپاره ذهني او عملي تيارى ضروري دى .

بعض مجاهدین په تقدیر او توکل د ناسم پوهاوي له وجې د ډرون په خلاف احتیاطي تدابیر لدې وجې ترک کوي چې دا د توکل منافي دی ، په تقدیر باندې ایمان زموږ د عقائدو حصه ده ، لدې بغیر څوک مسلمان کیدلای نشي ، خو په جهاد کې له ځانه د دفاع احکامات هم په شریعت کې په ډېر وضاحت سره موجود دي ،په دې دوو کې هېڅ قسمه تعارض نشته . لدې وجې موږ په تقدیر باندې ایمان هم لرو او هغه څه چې راته ضرر رسوي د شریعت د احکاماتو په رڼا کې د هغوي لپاره احتیاطي تدابیر هم نیسو .

## د غلط فهمیو ختمول

د ډرون په اړه د مجاهدینو په منځ کې بعض غلط فهمی دي لومړی ددې غلط فهمیو ختمول پکار دي ، مثلا د بعض مجاهدینو دا خیال دی چې ډرون له ځمکني جاسوس نه بغیر حمله نشي کولای، خو دا خیال یې سراسر غلط دی په ډرون کې دا صلاحیت شته چې بغیر له جاسوسه ویشتل کولای شي . (دا چې له زمیني جاسوس نه کله کار اخیستل کیږي دا به وروسته ذکر شي . )

بعض مجاهدین له څو بنیادي تدابیرو کولو وروسته دا فکر کوي چې د ډرون مخه یې کاملا ونیوله ددې وجه دا وي چې دوی له ځمکني جاسوس نه نیولې بیا د ډرون حملې پورې ټول حالات نه ارزوي .

یوه بله غلط فهمي د مجاهدینو تر منځ دا ده چې که جاسوسان ختم کړو ډرون په خپله ختمیږي په بعض مواردو کې دا خبره صحیح ده خو د جاسوس مسئله په هر جنګ کې وي دا کمېدلای شي خو یو مخ ختمول یې ناممکن د ي .

## د ډرون مخنيوی څنګه ممکن ده ؟

د ډرون حتمي مخنيوي يواځې په هغه وسلې سره ممکن دی چې په هوا کې يې راغورځوي ، داسي وسله فعل حال له مجاهدينو سره نشته، په هر صورت له هرې نوې او فيصله کونکې وسلې سره د مقابلې طريقه داده چې :

- تر ټولو لومړي ددې وسلې د استعمال مقاصد پيژندل .
- دا وسله څنګه کار کوي ؟ پدې باندې ځان پوهول.
- د دښمن له طرفه ددې وسلې د استعمال په طريقه باندې ځان پوهول .

که چېرې موږ په دې دريو مرحلو باندې ځان پوه کړو نو موږ ددې وسلې په کمزوريانو باندې پوهېدلای شو . د دښمن له نيمګړتياوو فائده اخيستل او ورسره د ده دقوت له شره د ځان ساتل د جنګ يو اصل دی . د ډرون له شره د ځان ساتلو لپاره د مجاهدينو کوششونه په دوو حصو تقسيمولای شو .

- عارضي مخنيوی
- مستقل مخنيوی

تر څو پورې چې د ډرون کوم مستقل مخنيوی نوي شوی يعني داسې اسلحه د مجاهدينو لاس ته ورنشی چې ډرون ورباندې راوغورځوي ، تر هغه بايد مجاهدين په دفاعي حالت کې قرار ولري .

## د ډرون له استعمال نه د دښمن مقصد څه دی ؟

په چریکي جګړه کې ښکېل د هر طرف دا غوښتنه وي چې جانب مقابل ته دومره زیان ورسوي چې په کم وخت کې ده  هغه جبیره کول ممکن نه وي.د ډرون اصل مقصد هم دادی ،خو لدې سره سره د دښمن ډیر ضمنی مقاصد هم په نظر کې لري.

- د مجاهدینو په معمولاتو باندې نظر ساتل او په اړه یې اړین معلومات راغونډول تر څود ممکنې خطرې په وخت کې یې مخنیوی وشي .
- مجاهدین له خپلو محفوظو مرکزونو نه محرومول .
- جهادي مشران په نښه کول تر څو د مجاهدینو روحیه کمزورې شي .
- د مجاهدینو منځنی مشران په نښه کول تر څو عام مجاهدین له ښه تربیت نه محروم شي ، ددې اثرات عموما د ډېر وخت لپاره وي.

د دښمن ددې مقاصدو په مقابله کې له داسې پلان نه کار اخیستل چې د مجاهدینو زیان هم کم شي او جهادي چارې هم په سمه توګه ترسره شي . د دې هدف د حاصلولو لپاره باید مجاهدین د ډرون ټولې حملې په غور سره تر نظر تېرې کړې ، د حملې ټول مراحل تعین کړي او په اړه یې یو تربیتي پروګرام جوړ شي او د معسکراتو د نصاب جزء وګرځول شي .

## ډرون څنګه کار کوي ؟

### د طیارې خصوصیتونه او اقسام

ډرون طیارې ډېر زیات اقسام لري ، د جاسوسي او قتل لپاره ، د عکاسي لپاره، ډرون امبولانسونه او.......
خو په افغانستان کې چې د ډرون نوم یاد شي سم دلاسه د هر چا ذهن ته د هغه خونخوار قاتل څېره مخته درېږي چې په زرهاوؤ بیګناه مسلمانان یې شهیدان کړي او شهیدانوي یې .

د مجاهدینو په خلاف امریکا دوه قسمه ډرون استعمالوي

- ایم کیو ۱ پریډېټر( MQ-1 Predator) چې د دو مزائلو د ویشتلو ځواک لري



- ایم کیو ۹ ریپر (MQ-9 reaper) چې د شپږو مزائلو د ویشتلو ځواک لري



### *ایم کیو ۱ پریډیټر(MQ-1 Predator)*

دا الوتکه د امریکا هغه لومړی بې پیلوټه ده چې دوی ورنه د جاسوسی او جګړې دواړو لپاره کار اخلي. د جنرل اټامیکس اناروټیکل سستم لخوا په جوړه شوې په ۱۹۹۴ کې یې خپل لومړی پرواز تر سره کړ او د ۱۹۹۵ په جولای میاشت کې نړی ته ور وپیژندل شوه، ددې طیارې د جوړولو په پروګرام باندې د امریکا ۲.۳۸ بیلیونه ډالر مصرف شوي او هره یو یې تر ۴ میلیونه ډالره پورې قیمت لري .د ۲۰۱۸



کال د مارچ په ۹ باندې له خپلې دندې نه منفک( ریټائر) شوه ځای یې ایم کیو ۹ ریپر (MQ-9 reaper) ونیو.

- عمله : په زمکه باندې درې نفره کنټرولونکو ته اړتیا لري ( پیلوټ ، کشفونکی ،څارونکی افسر )
- اوږدوالی : ۲۸ فټه (۸.۲۲ متره )
- د وزرونو پراخوالی : ۴۸ فټه (۱۴.۸ متره )
- جګوالی : ٦.۹ فټه (۲.۱ متره )
- خالی وزن ۵۱۲ کلو
- له وسلو سره وزن ۱۰۲۰ کلو
- سپيډ ۱۳۵ میله په ساعت کې (۲۱۷ کلومټره )
- رینج ۱۱۰۰ کلومتره
- حد پرواز ۲۵۰۰۰ فټه (۷٦۲۰ متره)
- وسله : دوه د( دوزخ اور توغندی ) AGM-114 Hellfire

### *ایم کیو ۹ ریپر (MQ-9 reaper)*

ایم کیو ۹ ریپر (MQ-9 reaper) هم د ایم کیو ۱ پریډیټر( MQ-1 Predator ) په څېر جنرل اټامکس له خوا په ۲۰۰۷ کال کې جوړه شوې ده . خو له پریډیټر نه یې صلاحیتونه زیات دي د جوړولو په پروګرام یې 16 بیلیونه ډالر لګېدلي او هره یوه یې ۱۹ میلونه ډالره شاوخوا قیمت لري . د امریکا د فضائي



اداري ناسا په ګډون یې ډېر هیوادونه لکه برطانیا ، اسټرلیا، جرمنی فرانس، اټلی او...... استعمالوي.یو پیلوټ کولای شی دوه یې درې الوتکې په یو وار کنټرول کړی خو هدف یواځې په یوه باندې ویشتلی شي .

- عمله ۲ نفره په ځمکه ( پیلوټ او معاون یې ).
- اوږدوالی ۳٦ فټه (۱۱ متره)
- د وزرونو تر مینځ فاصله ٦٥ فټه (۲۰)
- جګوالی ۱۲ فټه (۳ متره )
- خالي وزن ۲۲۲۳ کیلو
- د وزن اوچتولو معیار ۴۷٦۰ کیلو
- د تیلو د ځایولو وړتیا ۱۸۰۰ کیلو
- د وسلو وزن ۱۷۰۰ کیلو
- سپیډ ۳۰۰ میله په ساعت کې (۴۸۲ کیلو متره)
- رینج ۱۸۵۲ کیلومټره
- پرواز ۲۴ ساعته له وسلو سره ۱۴ ساعته
- د الوتلو جګوالی ۵۰۰۰۰ فټه (۱۵۰۰۰کیلو متره )
- څلورو هیل فایر مزایل چې هر یویې ٤٦ کیلو دی او دوه ۲۳۰ کیلو وزن داره په لیزر سره رهبری کیدونکی بمونه لیږدولای شي .

## AGM-114 Hellfire(اې جي ایم هیل فایر یا دوزخي اور )

هیل فایر توغندی له هوا نه مځکې ته توغول کېدونکی میزائل دی . په لومړیو کې د زغروالو موټرو او ټانګ ضد په حیث استعمالیدل ورسته یې استعمال پراخ شو او اوس د افرادو لپاره هم استعمالیږي له هوا،سمندر وچې او بېرون نه ویشتل



کیدلای شي په لیزر سره رهبری کیږی خو AGM-114L Hellfire په رادار او لیزر دواړو سره رهبري کیږي . یعنی په هدف باندې د لیزر شعاع اچول کیږي د مزایل په سر کې سنسر دا رڼا کشف کوي او هدف له منځه وړی چې دا رڼا د شپې په دوربین یا په هغو کامرو چې د IR light (انفرارډ رڼا ) د لیدلو صلاحیت ولری لیدل کیدلای شی.

ددې مزائل مختلف ماډلونه شته چې بعض یی د پیاده افرادو ویشتلو لپاره بعض د ودانیو او گاډو لپاره خو یو ماډل چې هیلفایر پي ماډل ورته وایی په هدف پسې د گرځېدلو صلاحیت هم لري .له فایر کیدلو ورسته په ٦ یا ٨ ثانیو کې خپل هدف ته ځان رسوي د ویشتلو زاویه یې ٧٥ درجې ده ، همدا ٨ ثانیې د مجاهد لپاره قیمتي وخت دی تر څو وکولای شي له گوزاره ځان وساتي او یا .............

## د الوتکې کامرې

ډرون په ډېرو قوي کامرو سمباله ده چې شمیر یې ۵ ته رسیږي .



## د طیارې په سر کې کامره

د طیارې خپله کامره چې د الوتکې په سر کې لیګېدلې وي له پیلوټ سره د لارې په موندلو کې مرسته کوي ، هدف نشي پیدا کولای .

## د ورځې کامره

لاندې طرف ته نصب کیمره چې د ورځې د لیدلو لپاره استعمالیږي دا یوه ساده ویډیو کیمره وی چې د طیارې سترګه یې هم بللی شو ، دا کامره له ۵ کلومتره نه پورته لیدل

کولای شي خو په دومره لوړه فاصله کې هدف نشی صحیح کولای او نه هدف سم ویشتلای شي ، چې یو وار هدف تعین شي بیا دا کیمره دا صلاحیت لری چې هدف رانږدې (زوم ) کړي په دې وخت کې د کیمرې قطر کوچنی کیږي او کولای شي یواځې څو متره ځای




شاوخوا ووینې دا ددې کمزوري ده .نو د مزائلو ویشتلو په وخت کې لګیدونکو افرادو ته دا فرصت وي چې یو خوا بلخوا شي. ( په دې اړه به وروسته راشي )

## انفرارېډ کامره

دا کمره د الوتکې په لاندې حصه کې لګېدلې وي چې د شپې یا په کمه رڼا کې لیدل کولای شي ، په دې کې د شپې د دوربین یا نایټ ویژن ټکنالوجي کار اخیستل شوی .

## تهرمل کامره

هغه کامره چې د شیانو تصویر له هغوی نه د خارجیدونکي حرارت په بناء باندې جوړوي ، د نورو موجوداتو په څېر د انساني جسم هم خپل معین حرارت وي ، چې دی له شاوخوا موجودو شیانو نه بېلوي. له دې وجې دا کامره د شپې له خوا په اسانی سره لیدلای شي ، ددې



کامره په مټ هر هغه شی چې حرارت ولري او متحرک وي په اسانی سره لیدل کیدلای شي . دوروبینونه یې هم سته چې مجاهدین نن سبا په عام ډول د شپني عملیاتو لپاره کار ورنه اخلي او دښمن یې سخت وارخطا کړی ده .

## د رادار کامره

دا کامره دا رادار په اصولو باندې کار کوي چې په وریځ ، دود او ګردونو کې د لیدلو صلاحیت لري . رادار داسې صوتی څپې خارجوي چې انسان یې نشي اوریدلای دا څپې چې کله له خپل هدف سره ولګیږي او بیرته خپل مرجع ته راوګرځي نو په سکرین باندې د خپل هدف شکل جوړ کړي ،مګر په ډرون کې دا نظام چندان کامیابه نشو .

ډرون په باران، ګرد ، تېزه هوا او وریځو کې سم کار نشي کولای ، په خراب موسم کې د الوتکې د غورځېدلو له خطرې[1]سره سره د ډرون د کمرو صلاحیت هم ډېر محدود شي ، همدارنګه په غرونو او خصوصا په ځنګلونو کې ډرون ته د هدف موندل او له منځه وړل مشکل وي ،

[1] ځکه پنډې وریځې د سټلایټ او ډرون تر منځ اړیکه پرې کوي او ډرون په اتومات ډول په خپل سر په هوا کې الوزې چې هرګړی یې د لویدلو خطره وي ، او د وریځو اوبه یې په وزرونو باندې یخی کیږي چې د الوتکې توازن خرابوي او د غورځېدلو سبب یې کیږي که څه هم په ډرون کې داسې الات شته چې کولای شي دایخی ویلي کړی او یا یخ ویلي کونکې ماده ورباندې وشیندي خو په افغانستان کې د اضافي وسلو د لیږدولو په خاطر ورنه اکثره وخت دا الات لیری کړای شوي وي

## د ډرون حملې مرحلې

ډرون حمله له تر سره کیدلو مخکې تر څو مرحلو وزي .

- د ځمکني جاسوس مرحله
- هوائي ترصد او حمله
- له ډرون حملې وروسته مرحله

## د ځمکني جاسوس مرحله

په دې مرحله کې جاسوس مجبور دی چې هدف ته ډېر نږدې ورشي ، مجاهدین کولای شي د جاسوس د مشکوکو حرکاتو په واسطه جاسوس ونیسي.

### د چپ په واسطه






غربیان خپلو جاسوسانو ته داسې چپونه (غمي ) ورکوی چې جي پي ایس پکې فعال وي چې په هدف باندې له غورځولو یا نښلولو ورسته کوردینات په اتومات ډول خپل مرکز ته لیږدوي او ډرون یې ډېر په اساني سره پیدا کولای شي، بل قسم یې بیا داسې دي چې نه لیدل کیدونکې رڼا ورنه راوځي چې د شپې په دوربین کې لیدل کیدلای شي دا هم ډرون په اسانی سره پیدا کولای شي . داسې چپونه اکثر د مجاهدینو په لیکو کې د جاسوسانو له لورې د

مجاهدینو په موټر یا موټر سایکل وغیره پورې نښلول کیږي او دروون یې تر ډېره وخته پورې ځاري تر څو د همدې موټر یا موټر سایکل له لارې د مجاهدینو نور مرکزونه او پټنځایونه پیدا او له منځه یوسي چې دا سلسله الحمدللّٰه اوس راکمه شوې ده .

## د جاسوس له خوا په لیزر سره تعین

په دې طریقه کې جاسوس په هدف باندې د غیر مرئی لیزر رڼا اچوي چې ډرون یې د شپې د کامرې په واسطه کشف کوي او له منځه یې وړي .

## د جاسوس له خوا په رنګ سره تعین

په دې طریقه کې جاسوس د مجاهد په بدن جامو یا موټر باندې په خاصه سیاهي باندې لیکه کش کوي چې اکثر وخت د X په شکل وي او ډرون یې د شپې د کامرې په واسطه کشف کوي او له منځه یې وړي .

## له ځمکني جاسوس نه ځان ساتل

- له چپ نه ځان ساتل

له چپ نه د ځان ساتلو لپاره باید په مرکز،موټر یا موټر سایکل وغیره باندې د پیرې انتظام وشي که داسې انتظام وشي چې پیردار په داسې ځای کې پیره وکړي چې د ډرون او جاسوس دواړو له نظره پناه وي لا به ښه وي .

په خپل مرکز یا موټر کې داسې جامر ساتل چې هر ډول سیګنل بلاک کولای شي تر څو کوم سیګنل چې له چپ نه وزي تر خپل مرکز یا سټلایټ پورې ونه رسیږي او قطع شي.

- له لیزر او رنګ ځان ساتل

له لیزر او غیر مرئي رنګ نه د ځان ساتلو لپاره دا ضرور ده چې له تاسو سره د شپې دوربین یا د شپې کامره وي تر څو وکولای شي هغه رنګ ووینئ چې په سترګو نه لیدل کیږي .

د سهار یا شپې په وخت کې یو دم د ډرون راپیدا کېدل د تشویش خبره ده په داسې صورت کې باید تاسو خپل مرکز یا موټر د شپې په کامره (نایټ ویژن کامره) باندې ولټوئ تر څو چپ یا رنګ پیدا کړئ خو هغه وخت چې ډرون مو پر سر ګرځي د شپې د کامرې استعمال هم له خطره خالي ندي ځکه لدې کامرې نه هم داسې رڼا راوځي چې په سترګو نه لیدل کیږي خو ډرون کولای شي د شپې د کامره په مرسته یې په ډېره اسانۍ سره ووینې .

له بازاره یا نورو عمومي ځایونو نه موټر یا موټرسایکل تر خپل مرکزه پورې نه راوستل او له مرکزه لرې ورته انتظام کول په کار دی که چېرې دا موټر د ډرون یا جاسوس په نظر کې وي نو په مرسته یې نور ځایونه افشا نشي ، یا که راځي هم د شپې په دوربین یا کامره باندې باید وپلټل شي چې کوم چپ وغیره خو به پکې نه وي .

ډرون د شپې په وخت کې هر رقم رڼا د خپلې انفرارډ کمرې په مټ لیدلای شي ، نو لدې وجې باید د شپې په وخت کې د لاسي څراغ ، د موټر بتۍ ، اور او یا هر هغه شی چې رڼا کوي ځان وساتل شي ، په ځنګل یا هواره کې د خوراک او پخلي انتظام باید تر ماښام مخکې وشي تر څو د شپې د اور لګولو ضرورت پېښ نه شي ، د کوټې په کړکۍ او

دروازه باندې تورې ډبلې پردې ولګول شي تر څو رڼا دباندې ونه وځي
.

- جاسوسانو ته دوکه ورکول

مرکز ته تر را داخلېدلو مخکې د يو داسې کور يا کوټې انتظام کول تر څو هر مجاهد هغه کور ته داخل شي او بيا په پټه لار چې تر ځمکه لاندې مرکز ته راغلې وي راشي تر څو جاسوسان دوکه شي دا طريقه له ډرون سره هم استعماليدای شي . په سفر کې ملګري په يوه ځای باندې نه ښکته کول يا پورته کول . په يو قسم موټرو کې سفر چې کوم خاص ملګري معلوم نشي چې په کوم موټر کې دی .

CIAيا نورې استخباراتي ادارې له هر جاسوس سره جلا جلا رابطه نه ساتي بلکې دوی د يوې سيمې سرکرده خلک لکه ملک ، د جامع مسجد امام ، مشهور دکاندار او يا داسې خلګو ته چې د خلکو راشه درشه ورسره ډېره وي د پيسو جايداد او نورو شيانو لالچ ورکوي ، چې کله يې په خپل جال کې رابند کړي وروسته همدا خلک مجبوروي چې په خپله طبقه کې د ځان لپاره مخبران او جاسوسان پيدا کړي ، عموما د لاندې درجې جاسوسان له فوځ يا خپلې ادارې سره براه راست رابطه نه ساتي بلکې همدا بدبخته خلک ددوي او استخباراتي ادراې تر منځ د رابطې کار کوي.

- د موټرو شيشې تورې ساتل ، په بعض ښارونو کې په تورو شيشو باندې بنديز وي نو له تورو پردو نه کار اخيستل .
- ښار يا بازار ته د تللو لپاره چې څومره ممکنه وي له عامو سواري موټرو نه کار اخيستل ، داسې هم ممکنه دې چې تر

بازاره په خپل موټر کې ولاړ شي خو بازار ته له داخلېدو مخکې خپل موټر په داسې محفوظ ځای کې درول چې د جاسوس لاس رسی ورته ممکن نه وي .

- د موټر پر ځای له موټر سائیکل نه کار اخیستل ، پدې کې سره د افرادو تعداد هم محدود وي او دښمن هم ډېر نه ورته پام کیږي
- له سفر نه مخکې او وروسته د خپل موټر په نایټ ویژن کامرې سره جائزه اخیستل ځکه له چپ او رنګ نه خارجېدونکې رڼا عام نظر نشي لیدلای خو هغه وخت چې ډرون ګرځې ددې کامرې یا دوربین استعمال هم له چپ نه کم ندی ،
- له سفر ورسته د خپل موټر یا موټر سایکل په قوي کائګر[2] سره جائزه اخیستل تر څو داسې آله پکې نه وي چې سیګنل لیږدوي . ښه کائګر نن سبا Spy MatrixPRO-10G دی چې ډېری استخباراتي اداري ورنه کار اخلي کولای شي هر قسم جي پی ایس کشف کړي . د جي پي ایس په اړه به نور معلومات مخکې راشي .




- کله کله د موټر سپیکر هم د ټک ټک ټک آواز کوي چې دا هم د سیګنل د لیږدلو علامه ده .
- د موټر د وینځلو یا جوړولو په وخت کې پخپله باید له موټر سره موجود وئ، مستري باید معتمد وي که غیر معتمد وي هر حرکت یې په غور وڅارئ تر څو کومه داسې آله مو په موټر

[2] هغه آله چې په مرسته یې الکترونیکي سیګنلونه کشف کیږي

کې ځای پر ځای نکړي چې د څارلو سبب مو وګرځي. اکثره
وخت مجاهدین داسې بې احتیاطي کوي . د هغو عامو
ځایونو بیان چې عموما جي پی ایس پکې ایښودل کیږي هم
وروسته راروان دی.

- له موټر وینځلو یا جوړېدو وروسته موټر او خصوصا انجن، لاندنی حصه ، مخکې او وروسته بمپر ، د ټېرونو تر منځ خلا ، د موټر چت او داسې نور ځایونه په کیمرې او ډیټکټر (کائګر ) سره چیک کړئ .

- که په کوم ځای کې د موټر د درولو ضرورت وي نو ددې لپاره ضروري ده چې داسې ترپال وي چې د هغه ماحول له رنګ سره برابر وي ، یا دومره د ډبل وي چې له موټره خارجېدونکې ګرمي پخپل ځان کې جذب کړې تر څو ډرون یې په خپله تهرمل کامره سره د ګرمائش له وجې کشف نکړي .

- په مرکز کې دننه د خندقونو زیرزمیني او نور لارو انتظام کول

له پخوا راهیسي خندقونه د دفاع په خاطر استعمالیږي لکه په غزوه احزاب کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د دفاع په خاطر خندقونه کیندلي وو او د هجرت په وخت کې یې په غار ثور کې پناه اخیستې وه ، همدارنګه د سږ کال لپاره د مجاهدینو د عملیاتو نوم هم الخندق دی . د ډرون حملې تر ټولو مؤثره دفاع خندق یا تونل دی . خندق که د دښمن د مخنیوي لپاره وي نو پراخوالی او اوږدوالي ته یې اهمیت ورکول کیږي . که د بمبار یا هوان نه د ځان ساتلو لپاره وي نو ژور والي ته

اهمیت ورکول کیږ ي، خو دا چې ډرون د یو سنائپر په اصول باندې کار کوي نو موږ ته یو داسې خندق په کار دي چې دومره پراخ او ژور وي تر څو د حملې زور برداشت کړي .

بهر حال دا په پوره اطمنان سره ویلای شو چې له ډرون نه د دفاع چې کومې غیر تکنیکي لارې له موږ سره شته خندق یا تونل یې تر ټولو مؤثره لار ده ، لکه څنګه چې د ځمکې پر سر باندې په اوسېدلو عادت یو داسې باید تر ځمکه لاندې په اوسېدلو باندې ځان عادت کړو ، لکه د ویتنام په جنګ کې چې چریکیانو د امریکایانو له بمبارۍ نه د ځان ساتلو په موخه تر ځمکه لاندې کلونه تېر کړل او تر ځمکې لاندې د دوي له پښو ځمکه کش کړه او تېښتې ته یې مجبور کړل .

دې ته ورته کیدایشي نورې لارې هم وي چې موږ ورنه ناخبره یو،کوم ورونه چې له جاسوسانو نه تحقیقات کوي باید دې طرف ته ځانګړې پاملرنه وکړي . او پدې ځای کې باید د کاؤنټرانټلجنس یا ځوابي استخباراتي جنګ نه کار واخلي ، پدې سلسله کې به دوي په هر سیمه کې خپل بېل نظام جوړوي ، د جاسوسانو په کړیو کې به خپل کسان داخلوي ، نیول شوي جاسوسان به د خپل مقصد د پوره کولو لپاره استعمالوي ، په کلې یا ښار کې به په مشکوکو خلکو یا هغه څوک چې نږدې خپلوان یې په دولت کې کار کوي او کورنۍ یې د طالبانو په سیمه کې ژوند کوي ټینګ تر نظر لاندې ساتي ځکه اکثره وخت همدا خلګ د جاسوس په حیث کوي ، د په هر ښار او کلې کې باید خپل کسان ولري تر څو د مشکوکو حالاتو خبرداری ورکړي ، د دښمن جاسوسان به په خپل مینځ کې له منظم کېدلو نه ساتي . او داسې نور.....

## هوائي ترصد او حمله

په دې مرحله کې ډرون هدف پېژني او په اړه يې معلومات راټولوي ورسته يې يا په خپله له منځه وړي او يا نورو قواوو ته د هدف معلومات ورکوي چې له منځه يې يوسي . په خپله دهدف له منځه وړل لکه په افغانستان او نورو سرحدي سيمو کې عامې ډرون حملې چې ډرون هدف پخپله کشف کوي هم او له منځه يې هم په خپله وړي لنډ مثال يې لکه د سرې قطعې د مشر ملا ناصر اخند تقبله الله شهادت ، امير المؤمنين ملا اختر محمد منصور تقبله الله شهادت يا د حافظ بدرالدين تقبله الله شهادت. او د نورو قواوو په مرسته چې هدف ختموي لکه د ابو مصعب زرقاوي تقبله الله شهادت چې ډرون کشف کړي او بيا يې په اړه په عراق کې د امريکا هوايي الوتکو ته معلومات ورکړي وو چې دوو F16 الوتکو ورباندې دوه ليزر گائيډډ پنځه سوه پاؤنډه (۲۵۰ کيلو ) بمونه وغورځول ، نوموړی لدې حملې بچ شو خو روغتون ته په لار يې په امبولانس کې ساه ورکړه ( انا لله وانا اليه راجعون ).

## په هوائي ترصد کې د هدف پېژندل

د الوتکې له اصلي چلونکي سره تل يو بل کس هم ناست وي چې sensor operator بلل کيږي او د مرستيال پيلوټ دنده پرمخ وړي د هدف د معلومولو لپاره ليزر يا هم د شپې ليدونکې کامره تعقيبوي ، د لايزر ميل هدف منعکسوي او په الوتکه کې د نصب کمپيوټر له لارې د هدف فاصله او نور مشخصات محاسبه کوي چې ورسته يې بيا معاون پيلوټ يا ځمکني ځواکونو ته ليږي چې هدف له منځه يو سي دې. داسي هم کيږي چې په الوتکه کې نصب ليزر ځمکنيو قواو ته د چاپې په مهال د لاربنودلو لپاره استعمال ليږي چې د شپې د دوربين په مټ په اساني سره کشف کيدلای شي . اوس مجاهدين همدا طريقه

استعمالوي يعني د دښمن د چاپې لپاره معين ځای چې دوی يې د ليزر يا رنګ  په واسطه تعينوي د شپې د دوربين په توسط کشف کړي او بيرته په دښمن باندې چاپه واچوي .

د هدف د معلومولو لپاره له ډېرو لارو کار اخيستل کيږي مثلا د کامرو له لارې ،د  ځمکنی جاسوس له لارې چپ ، ليزر يا نه ليدل کيدونکی رنګ استعمالول ، د انساني جسم  حرارت د ټيليفون کشف او.....

## له هوائي ترصد نه ځان ساتل

- له مجاهد سره بايد اقلا دوه دودو جوړونکې ګرنېټونه ( smoke grenade) وي ، که چېرې په دې پوه شي ډرون راپسې دي نو د رش په ځای کې بايد کار ورنه واخلي مثلا په يو ځلور لارې کې دې له موټر ښکته شي او ګرنېډ دې وغورځوي چې د ډرون کامره ورباندې خپه شي او د څو ثانيو لپاره خپل هدف ونشي ليدلای په دې وخت کې بايد مجاهد په يو کور ، ګلی وغيره باندې ننوزي . ياده دې وي چې په خلاصه فضا کې د ګرنېډ استعمال پخپله ډرون ته يو سيګنل دی بايد له استعمال نه يې ډډه وشي.

- کوم ملګري چې موټر چلوي بايد د هر قسم حملې په مقابل کې ذهنا تيار وي ، په بيړني وخت کې به موټر په کومه لار باسي ، ملګري به چېرته ښکته کوي ، پخپله به موټر چېرته پريږدي ، بېرته به له ملګرو سره په کوم ځای کې يوځای کيږي او داسې نور ....

- هغه مجاهدين چې اکثره وخت په سفر کې وي بايد له ځان سره داسې جامې وساتي چې د ورزې او شپې پکې د ډرون له نظره پناه وي.

د سفر په وخت کې  څو ځله جامې بدلول ، د اوږده سفر په مهال اقلا يو يا دوه وارې د موټر بدلول ، له برقعې نه هم کار اخيستل کيدای شي .

- د شپې له طرفه داسې جامو ته ضرورت دی چې وکولای شي د بدن حرارت د باندې وتلو ته پرېنږدي تر څو يې ډرون په خپله FLIR کامره باندې کشف نکړي .

ددې جامو لپاره په مختلفو لارو باندې سوچ کيدلای شي . له هغو موادو نه بايد پکې کار واخيستل شي چې کولای شي حرارت دباندې وتلو ته پرېنږدي ،لکه المونيم يا هغه مواد چې د کورونو د گرمو ساتلو لپاره د کور په چت  کې استعماليږي چې Radiant Barrier ورته وايي دا مواد د المونيمو د صفحې په شکل دي.  چې حرارت د باندې وتلو ته نه پرېږدي خو  يوه کمزوري يې دا که د ډېر وخت له پاره په بدن پورې پاته شي پخپله گرميږي ، له دې نه د جامو د جوړولو طريقه داده چې لومړی به Radiant Barrier  کېږدې مخ به يې د بدن طرف ته وگرځوې وروسته به د پمبه وؤ يو نري ټوټه ورباندې هواره کړې تر څو ترمنځ يې د هوا لپاره ځای پاته شي او گرم نشي بيا به ورباندې د Radiant Barrier  بله ټوټه کېږدې چې مخ به يې د باندې طرف ته وي . که همداسي يې هم پرېږدې کار کوی يعني په همدې شکل ورنه قميص او پتلون جوړ کړې کار کوی خو گرميږي ژر بايد په سر باندې يې له نري پراشوټ نه

کار واخیستل شي چې گرمائش دننه پرېنږدي . که هغه کاغذي پاڼې یا واښه چې قناص یا سنائپر والا ورنه د کیموفلاج لپاره کار اخلي هم ورسره شي نو کولای شي تاسو د ډرون له نظره د څو ساعتونو لپاره پټ کړي . چې په دې وخت کې تاسو خپل ماموریت سر ته ورسوئ .



## په هدف باندې حمله

جاسوس چې کله ډرون ته خپل هدف ور وپېژني ، نو لدې ورسته د جاسوس کار ختم شي ، او د ډرون کار شروع شي ، د ځمکني جاسوس په مرحله او د ډرون په مرحله کې ډېر زيات فرق دی ، د مجاهدينو يوه کمزوري په دې دوو مرحلو کې فرق نه کول دي ، يعني دوی چې څومره هم احتياطي تدابير نيسي هغه ټول د جاسوس لپاره وي، اکثره وخت ډرون ته پکې هېڅ پاملرنه نه کيږي ، که دې مرحلې ته هم توجه وکړل شي ، د ډېرو مجاهدينو ژوند ژغورل کيدای شي .

لکه څنګه چې مو مخکې وويل چې د جاسوس کار صرف ډرون ته هدف ښودل وي ، لدې وروسته د ډرون دنده شروع کيږي چې د خپل اخيري مزائل تر ويشتلو پورې دوام کوي . دا مرحله هغه وخت شروع کېږي چې د جاسوس د مخنيوي لپاره شوي اقدامات ناکامه شي . او د مجاهدين په دفاعي نظام کې درځونه پيدا کړي .که يو وارې ډرون خپل هدف وپېژني بيا ګويا د جاسوس کار ختم شو، بيا بايد ټوله توجه د جاسوس پرځای د ډرون له شره د ځان ساتلو ته وشي ، ددې مرحلې لپاره که مجاهدينو له مخکې لا تياری کړی وي بيا د ډرون له حملې وروسته هم د ډېر ځاني او مالي زيان مخنيوی کيدايشي .

عموما مجاهدين چې څومره احتياطي اقدامات کوي هغه صرف د جاسوس لپاره وي ،لکه د پټ مرکزونه جوړول ، مراکز بدلول را بدلول ، د مرکز په صحن کې ډېر نه ګرځېدل ، د موټرو شيشې تورې ساتل ، ډېر

ملګري او موټر په يو ځای نه سره را ټولول، د نومونو بدلول او داسې نور که چېرې جاسوس ډرون ته هدف ور وپېژني دا اقدامات ټول همداسي پاته شي ، د راتلونکې مرحلې لپاره بايد نور اقدامات وشي . مجاهدين چې نن سبا په کوم شکل مرکزونه جوړوي ، يا کوم کور ته ورځي ، دا د ډرون لپاره ډېر موزون دي يعني که ډرون وغواړي له هر طرفه وربانديې حملې کولای شي ، مجاهدين بايد د خپلو مرکزونه په تعمير کې بدلون راولي چې بايد د له يوې نه زياتې دروازې ولري.

## له ډرون حملې نه ځان ساتل

د ډرون حملې مرحله ډېره هنګامي مرحله ده ، پدې کې د انسان د ژوند او وخت تر منځ مسابقه وي ، ټول نور کارونه دويمې درجې ته واوړي ، او د يو محدود وخت لپاره د انسان خپل ځان ساتل فرض وګرځي . بل دا يو غير يقيني صورت حال وي ، چې د حالاتو درست ادارک او پر ځای فيصله ډېره مشکله وي، ددې فيصلې د عملې کولو لپاره تربيت په کار ده .

## اول اصل د وخت اهميت پېژندل

د ډورن حملې په مرحله کې تر ټولو مهم شی د وخت اهميت دی ، همدا رنګه د شپې او ورځې فرق هم ډېر اهميت لري . د ورځې ډرون په يوه کامره سره ليدل کوي چې پراخه ساحه تر نظر لاندې ساتلای شي ، او د شپې په بله کامره باندې . همدارنګه د ځمکني جاسوس د مرحلې او د ډرون حملې د مرحلې په وخت کې هم زيات فرق دی د جاسوس مرحله له څو ساعته نه نيولې تر څو مياشتو پورې اوږدېدلای شي خو د ډرون مرحله يواځې له ۴ يا ٦ ثانيو نه نيولې تر ۸ يا ۱۰ ساعته پورې

وي. که څه هم د ډرون حملې وخت ډېر کم وي خو بیا هم دا مرحله په څو ضمني مراحلو باندې مشتلمه ده .

- د هدف پېژندل
- د طیارو را یوځای کېدل
- د طیارې فایر کول ته ځان برابرول
- اول مزائل ویشتل

## دوهم اصل د د هنګامي حالاتو تعین (ایمرجنسي)

مخکې مو وویل چې هنګامي حالت هغه دي چې د کم وخت لپاره انسان ته ځان ساتل مهم فرض جوړ شي نور ټول کارونه دوهمې درجې ته واوړي . مثلا که په یو کور کې اور ولګېږي لومړی ددې اور د وژلو هڅه کیږي ، چې دا هنګامي حالت ندي ، که چېرې دا اور د کور نورو کوټو ته خپور شي نو انسان صرف د ځان ، کورنۍ او قیمتي مال په ساتلو پسې شي  د اور له وژلو لاس واخلي دا هنګامي حالت دی ، همداسې که له ډرون حملې مخکې دوې یا درې طیارې  په فضا کې ولیدل شي نو دا بیړنی حالت دی ځکه دوې طیارې د حملې کولو پوره صلاحیت لري ، داسې به ډېر کم پیښ شوي وي چې د حملې په وخت کې دې یواځې یوه طیاره په اسمان کې وي ، عموما د حملې په وخت کې له ۲ نیولې تر ۵ پورې طیارې په اسمان کې وي .

له ډرون حملې نه د دفاع لپاره دا ضروري ده چې موږ د بیړني حالت په شروع او اختتام باندې ځان پوه کړو . خو  د ډرون حملې په مرحله کې تر ټولو غیر یقیني ځای دا دی چې هنګامي یا بیړنی حالت څه وخت شروع شو او ډرون څه وخت خپل ټارګېټ پېژندلی ده، ددې غیریقیني

مرحلې لپاره به څو عناصر ذکر کړو چې په رڼا کې یې د یو مرکز امیر کولای شي د بیړني او غیر بیړني حالت تر منځ توپییر وکړي .

په دې سلسله کې دا لاندې نکاتو ته په کتلو سره فیصله کیدای شي :

- د طیارو تعداد
- محفوظې او غیر محفوظې علاقې
- د ډلګۍ یا ځای تعلق
- د مجاهدینو د مطلوبو مشرانو موجودیت
- د مجاهدینود موټرو تګ را تګ

## د طیارو تعداد

په اسمان کې د دوو طیارو ښکاره کېدل د ډېرې خطرې علامه ده که چېرې یوه طیاره وی دا حالت نسبتا محفوظ دی ، په داسې صورت کې به الوتکه په خپل ورځني ماموریت باندې مشغوله وي خو که په اسمان دوې طیارې یو دم را پیدا شي یا به دا په کوم هدف پسې وي او یا به ددې علاقه په غور سره پلټنه کوي ، په هغو سیمو کې چې عموما ډرون پکې نه وي یا یوه وي دا د بیړني حالت ابتداء ده ، درې یا څلور طیارې د حملې پوره صلاحیت لري چې دا یقیننا بېړنۍ حالت ده .

## دسیمې اهمیت

د ډرون په ډېر تعداد سره په اسمان کې موجودګی د خطرې علامه ضرور ده خو لدې سره سره په کومه سیمه کې چې دا ډرون لیدلی کیږي هغې ته هم ډېر اعتبار دی یوه سیمه موږ په دریو وجوهاتو باندې محفوظه یا خطرناکه بللی شو ، لومړی په دې سیمه کې د مجاهدینو د مرکزونو تعداد ، دویم په سیمه کې د ډرون یومیه تعداد او

دريم دا چې د سيمې اکثره خلګ په چا پورې تعلق لري په طالبانو پورې او که په دولت پورې ؟ که چېرې د سيمې يوه معتمده حصه له حکومت سره وي ، په دې سيمه کې د جاسوسانو امکان زيات دی چې د ډرون خطره هم ورسره زياتيږي ، همدارنګه هغه سيمې چې له فوځي کنډکونو او قرارګاؤ سره نږدې وي هم جاسوسان زيات لري .

## د ډلګی تعلق

په يوه سيمه کې مجاهدين له ډېره وخته اوسي او مراکز يې هر خاص او عام ته معلوم وي که چېرې دې سيمې ته د بل ولايت مجاهدين راشي ډېر ژر پېژندل کيږي، همدا رنګه بعض ځايونه د مجاهدينو د کمبود له وجې ډېر نه وي مشهور او محفوظ هم وي چې ډرون هم پکې خاص نه تر سترګو کيږي .

## د مطلوبو مجاهدينو موجودګي

امريکايانو د هغه مطلوبو مجاهدينو لست تيار کړي چې دوی ته يې ډېر زيان اړولی وي . همدارنګه مجاهدين پخپله هم پوهېږي چې ډرون د کومې درجې مجاهدين ډېر په نښه کوي . د يو مطلوب شخص په موجودګي کې دوې ډرون هم د بيړني حالت د آغاز نښه بللي شو .

## مراکزو ته د موټرو تګ را تګ

له ښاره چې د مجاهدينو کوم موټرونه مرکز ته راځي اکثره وخت هغه د ډرون تر تعقيب لاندې وي ، کوشش دې وشي چې د مجاهدينو ګاډي ښار ته تګ را تګ زيات ونه کړي يا دې له متبادلو لارو نه کار واخلي ، نو که چېرې له ښار يا بازاره د موټر له راتګ وروسته د ډرون تعداد يو دم زيات شي يا له موټر سره ډرون هم راورسيږي ، دا هم د زياتې

خطرې علامه بللی شو ، همداسې د يو كور مخې ته د ډېرو موټرو موجودګي هم د ډرون لپاره له دلچسپي نه خالي نده .

ددې پورته اصولو په رڼا کې د يو مرکز امير کولای شي د بيړني او عادي حالت تر منځ فرق وکړي ، خو بهتره داده چې د خطر له احساس سمدستي وروسته حفاظتي اقدامات وشي .

## دريم اصل د ډرون له نظره ځان پټول

په هنګامي حالاتو کې مجاهدين يواځې دوه کاره کولای شي . لومړی د ډرون له نظره پټېدل دوهم محفوظ ځای ته ځان رسول. د ډرون حملې په وخت کې مجاهدين عموما يا په مرکز کې وي ، يا په موټر کې په سفر روان وي ، يا له يوې حملې وروسته خپل مرکز ته د ستنېدو په حال کې وي . مجاهدين تو همدا دوه اقدامات په مناسب وخت کې عملي کول پکار دي .

له ډرون نه د ځان ساتلو تر ټولو مهم قدم ددې له نظره داسې پټېدل دي چې بيا هدف پيدا نشي کړای ، که يې ووينې خامخا يې په مزائل ولي ، د ډرون له نظره د مستقل او عارضي ټېدو په اړه موږ بحث کړی دی دلته يې صرف مختصراً ذکر کوو

## يو څو هنګامي تدابير

### انفرادي تدابير

- له موټر او مرکز نه بهر ګرځېدونکې مجاهدين بايد د وخت او موسم مطابق د کموفلاج جامې واغوندي ، داسې جامې چې د ډرون له ټولو کامرو نه يې پټ کړي . تفصيل يې مخکې تېر شوی .

- سم دستي له قدرتي یا مصنوعي ماحول نه استفاده کول مثلا په یو غار یا کنده کې پټېدل ، د ونو مېنځ ته ننوتل ، تر پل لاندې ، کور وغیره .
- که مبایل درسره وي لرې یې وغورځوئ.
- که داسې عارضي پناه ګاه درته پیدا شي کوشش وکړئ چې ډېر کم حرکت وکړئ ، ځکه هغه وخت چې ډرون مو پر سر ګرځي له حرکت نه سوا بل هېڅ شی دومره تاواني ندی .
- که چېرې له لومړي مزائل نه بچ شوې یا زخمي شوې او عارضي د پټېدو ځای لکه سیند ، ویاله ، باغ آبادي وغیره هم درنه لرې وي ، پخپل ځای همداسې ساکت پرېوځه ، تر هغه وخته چې ډرون ولاړه نشي ، یا خلک درته راونه رسېږي که خلک وي او په مېنځ کې یې ته نشې پټېدلای کوشش وکړه چې همداسې ساکت پاتې شې او خلګ دې خوندي ځای ته ورسوي .

## له ډرون حملو نه ده خپلو د مراکزو دفاع

له ډرون حملو نه د خپل ځان،مرکزاومجاهدینو ساتل د هر امیر شرعي فریضه ده. دا چې د هرې ډلګۍ د خپل افرادي قوت،حالاتواو سیمې په بنیاد خپل مرکزونه جوړوي، نو یقینا د مراکزو د دفاع لپاره هم سل فیصده یو شان اصول نشي کیدلای.دلته به موږ څو داسې خبرې بیان کړو چې ممکننا د هرې ډلګۍ لپاره فایده مندې وي.

مجاهدین خپل مراکز عموما د تربیت رهائش او یا د ملاقاتونو لپاره استعمالوي.هر امیر ته په کار ده چې په مرکز کې د پاته کېدونکو مجاهدینو د اوسېدو،خوراک، له ښار یا بازار نه د ضروري موادو د

راوړلوپر لارو چارو او د نورو ضروري کارونو د ترسره کېدلو لپاره اصول مقرر کړي په زيات نقل او حرکت بنديز ولګوي. له ځمکنۍ جاسوسي نه د ځان ساتلو او د خپل امنيتي جال د قوي کولو لپاره له هرې ممکنه لارې کار واخلي. امنيت ته تر بل هر راحت ترجيح ورکول شي، ځکه د ملګرو ژوند د هغوی تر راحت ډېر مهم دی. که ددې لپاره د سختو اصولو جوړولو ته اړتيا وي هم بايد دريغه ونکړي. ځکه د امير د بې‌پروايی له وجې د هر کيدونکي شهيد پوښتنه به د قيامت په ورځ ورنه کيږي.کله کله ډرون يو مرکز په نښه کوي خو حمله نه وربانديې کوي، ځکه دا دوی مجاهدينو ته د جال په حيث کاروي هرڅومره مجاهدين چې دې مرکز ته راځي خاري يې،د تګ راتګ لارې يې معلوموي،که دا مجاهد کوم بل داسې مرکز ته ولاړ شي چې د دوی په نظر کې نه وي هغه هم تر خپل هدف لاندې نيسي.

کله کله داسې هم کيږي چې په مجاهدينو باندې له مرکزه ډېر لرې د ډرون حمله کيږي، ترڅو مجاهدين پدې کې ورک کړي چې دا ملګری له کوم ځايه تعقيب سوی وؤ، پداسې حالت کې مجاهدينو ته پکار دي چې د هغو ټولو لارو چې دا شهيدان ملګري وربانديې تېر شوي وو، پوره تحقيقات وکړي چې کوم جاسوس خو به نوي پکې پيدا شوی. ټول مشتبه کسان تر خپل نظارت لاندې وساتي.

امیر ته په کار ده چې خپلو ملګرو ته پدې اړه تربیت ورکړي. د ډرون حملې علامات او د ځان ساتلو تربیت باید دخپلو ملګرو په تربیتي نصاب کې داخل کړي.

دا خبره یو ځل مخکې هم ذکر شوې خو د لا تاکید لپاره یې بیا راوړو چې عموما مجاهدین څومره احتیاطي اقدامات کوي هغه صرف د جاسوس لپاره وي ،لکه د پټو مرکزونه جوړول ، مراکز بدلول را بدلول ، د مرکز په صحن کې ډېر نه ګرځېدل ، د موټرو شیشې تورې ساتل ، ډېر ملګري او موټر په یو ځای نه سره را ټولول، د نومونو بدلول او داسې نور که چېرې جاسوس ډرون ته هدف ور وپېژني دا اقدامات ټول همداسي پاته شي ، د راتلونکې مرحلې لپاره باید نور اقدامات وشي . مجاهدین چې نن سبا په کوم شکل مرکزونه جوړوي ، یا کوم کور ته ورځي ، دا د ډرون لپاره ډېر موزون دي یعني که ډرون وغواړي له هر طرفه ورباندې حملې کولای شي.

هر امیر ته پکار دي چې ملګري یې په کومه لاره باندې سفر کوي د هغې پوره ترصد وکړي په لاره کې د قدرتي پناه ځایونو لکه غار، نهر، ونې وغېره یو نقشه جوړه کړي،موټروان او پیاده ملګري وربانديې پوه کړي تر څو د ممکنه حملې په صورت کې دې ځایونو ته ځان وروسوي.

دلته موږ بعضې هغه نقشې ذکر کوو چې ډرون کولای شي په اسانی سره هغه مرکز په نښه کړي او زیات تلفات مجاهدینو ته واړوي.


## اوله نقشه

ډرون لومړی حمله په هغه کوټه باندې کوي چې مجاهدین پکې وي ، دويمه حمله چې کله مجاهدين د وارخطايي په حال کې له کوټو نه صحن ته راووځي په صحن کې پر کوي ، دريمه حمله له صحن نه د باندې له دروازې سره وربانديې کوې ، چې پدې سره ډېر زيات تلفات اوښتلای شي ، مجاهدين بايد د خپلو مرکزونه په تعمير کې بدلون راولي چې بايد د له يوې نه زياتې دروازې ولري ، او د حملې په وخت کې بايد ټول مجاهدين په يوه لار ونه وځي تر څو هدف نشي بلکې په مختلفو لارو باندې ووځي په يو لار بايد تر ٣ زيات کسان په يوه وخت کې قطعا ونه وځي.

پوهان وايي چې هغه ځای ته هيڅ کله مه داخليږئ چې ورنه د وتلو درې لارې په نظر کې ونلرئ.

مرکزونه بايد د ونو او بوټو په منځ کې وي تر څو د ډرون له نظره په امن وي. که د مرکز پر بام باندې شيشې يا کوم بل داسې شی چې د لمر رڼا منعکسه کوي کېښودل شي نو د ډرون د کمرو مخنيوی کولای شي ځکه د لمر رڼا چې کله په شيشي باندې لګيږي نو پرقيږي دا چاره ډرون له هدف ليدل څخه منع کوي.

خو دا د ډرون لپاره خپله يو سيګنل کيدلای شي چې دلته کوم څه مهم شته. او بل دا صرف په ورځ کې کار کوي. دشپې لخوا يې هيڅ اثر نشته.





### دوهمه نقشه

ډرون هغه وخت هم حمله کوي، چې مجاهدین د سفر یا عملیاتو په نیت روانیږي،په داسې حال کې پلان داسې وي چې لومړی د مجاهدینو موټر یا بله د انتقال ذریعه په نښه کېږي، وروسته چې کوم

مجاهدين له مرکز نه  ددې مجاهدينو د مرستې يا د ځان د حفاظت په خاطر راوځي حمله کيږي.

داسې هغه وخت پېښيږي چې دښمن ته دا معلومات نه وي چې مجاهدين په څومره تعداد کې په مرکز کې موجود دي، په داسې حالت کې بايد مجاهدين په مختلفو لارو ووځي، که امکان وي. او که نه وي هم بايد ټول يوه ځای ته د خطر تر ختمېدو پورې نشي راجمعه، که نږدې کوم غر،غار،باغ يا زياتې اوبه وغيره وي چې څومره ژر ممکنه وي هلته دې ځان وروسوي او د خطر تر ختمېدو پورې بايد حرکت ونکړي.




## د مرکز په سطحه احتياطي تدابير

په هر مرکز کې باید د داسې بیړني حالاتو تمرین وشي او د پټېدلو لپاره باید عارضي ځایونه له مخکې نه ټاکل شوي وي .

- امیر باید د بیړني حالت د ابتداء او اختتام اعلان وکړي .
- چې څنګه د خطرې آواز وشي مجاهدین باید له مخکې نه ټاکل شوي پناه ځایونو ته نقل شي ، د نقلېدو په وخت کې باید ددې خبرې خاص خیال وساتل شي ، چې دا هر څه د ډرون له نظره پټ ترسره شي .
- د انتقال لپاره باید د مرکز عمومې لارې استعمال نه کړل شي، ددې لپاره باید له مخکې نه متبادلې لارې جوړې شوې وي.
- له انتقال ورسته باید په هغو عارضي پناهګاؤ کې تر هغه بېحرکته کښېني تر څو ډرون ولاړه نشي اوامیر د بیړني حالت د اختتام غږ ونکي.


## د سفر په صورت کې احتیاطي تدابیر

په موټر کې له ډرون نه د ځان خلاصولو اصول په مرکز کې له ډرون نه د ځان خلاصولو سره یوشان دي ، یعني د ډرون له نظره ځان پټ کړه او نسبتاً محفوظ ځای ته ځان ورسوه . مګر په دې کې مجاهدینو ته بعض مشکلات وي . یو دا چې ددې خبرې علم نه وي چې کوم موټر به ویشتل کیږي ، یا ډرون په کوم موټر پسې ده ، تر هغې چې مزائل نوي فایر شوی . که مزائل خطا شي بیا د حواسو پر ځای ساتل او مناسبه فیصله کول ډېر مشکل کار دی ، داسې ډېر وارې پېښ شوي دي چې موټر یا موټر سایکل روان وي له اول مزائل نه موټر خطا شوي دي مجاهدین هم سالم پاتې وي آن له ۳ یا څلورم مزائل وروسته شهیدان شوي دي .

بلفرض د مجاهدينو يو موټر تر ډرون حملې لاندې راغلو ، او له اول وار نه بچ شو نو له دوهم مزائل نه د ځان بچ کولو لپاره په ډېرو لارو باندې فکر کيداى شي ، چې څو يې موږ لاندې ذکر کوو .

- د موټر يا موټر سايکل سپيډ تر ممکن حده پورې زيات کړئ ، موټر سايکل بايد له ۸۰ نه کم نه وي او موټر تر ۱۲۰ ځکه د ډرون پيلوټ چې کله مزائل فاير کوي نو هدف ته د رسېدلو لپاره مزائل ته ۴ يا ٦ ثانيې وخت پکار ده او که پيلوټ په امريکا کې وي د سټلايټ له لارې ډرون کنټرولوي نو له ۹ نه ۱۱ ثانيو پورې وخت ته ضرورت لري ، او پيلوټ مزائل اندازاً فاير کوي يعني لومړی د موټر سايکل يا موټر رفتار اندازه کوي وروسته مزائل وولي.






- که چېرې نږدې درته کوم پناه ځای وي لکه ډېرې وني یا باغ او دې ته ورته نور ځایونه موټر په تیزي سره هلته بوزئ .
- که داسې ځای نوي نو له موټر چې ځومره ژر ممکنه وي ښکته شئ او په مختلفو طرفونو منډه کړئ. ځکه د ډرون کمره زوم وي پیلوټ د بیا نښې سیده کولو لپاره څو ثانیو ته اړتیا لري تاسو په دې موده کې خوربدلای شئ.



د ډرون کامره په زوم حالت کې

- تر منډې مخکې دې لا دا سره فیصله کړي چې په مخالفو طرفونو به ځي تر څو چې ډرون په دوی کې یوه ته متوجه شي او نور بچ شي .
- د منډې په وخت کې باید سیده منډه وانخیستل شي بلکې درې یا څلور قدمه یو طرف ته درې یا څلور قدمه بل طرف ته ډرون عموما په موټر باندې هغه وخت حمله کوي چې کله د موټر رفتار کم شي او یا کم وي، مثلا د تاویدلو په وخت کې، تر جمپ د اوښتلو په وخت کې چې موټر خپل رفتار کموي او...
- د موټر رفتار یو دم کمول او بېرته تېزول هم د مزائل د خطا کیدلو سبب کېدای شي.

## دریم له حملې وروسته مرحله

له ډرون حملې وروسته مرحله یوه اهمه مرحله ده په دې کې باید د مجاهدینو استخبارات لاندې کارونه ته توجه وکړي .

- د مجاهدینو د نقصان مکمله اندازه لګول او په اړه یې یو مکمل راپور تیارول ، فایده به یې دا وي چې د حملې نوعه ، وجې او اثرات معلوم شي او په راتلونکې کې د ځاني او مالي زیان په کمولو کې مرسته وکولای شي .
- جاسوس نیول
- له حملې ورسته باید مشران ددې ټینګه پوښتنه وکړي چې سبب خو به یې د کوم شخص لا پرواهي نه وي ، که د یو فرد کوتاهي ثابته شي باید مناسبه سزا ورکول شي ، ډېر داسې شوي چې د حملې په زیان کې د دښمن د کمال پر ځای زموږ خپله غلطي داخله وي ، که چېرې موږ خپل نظم مضبوط

کړو او په غلطیو سخته محاسبه او ګروېږنه وکړو نو ان شاءالله د زیات زیان مخنیوی کیدلای شي .

## جي پي ایس (GPS)

GPS (Global Positioning System) یا نړیوال ځای ښود سیستم یو موقعیت ښودونکی سستم دی چې په ۱۹۷۳ کال کې د امریکا د دفاعي څانګې لخوا جوړ شو ، په اصل کې د امریکایې عسکرو، موټرو ، الوتکو او کښتیو د دقیق ځای ښودلو په نیت جوړ شوي خو په ۸۰ لسیزه کې د متحده ایالاتو لخوا په غیر نظامي چارو کې هم  استعمال عام شو . جي پی ایس سستم په هر  ډول موسم کې د نړی په هرګوټ  کې  بغیر له کوم مصرف نه کارېدای شي .

نن سبا د جي پي ایس استعمال د ژوند په مختلفو برخو کې تر سترګو کېږي ، لکه د هوا حالات د معلومولو ، ځمکه پېژندنې ( چې له مخې یې د کانونه ډېره ښه نقشه جوړېدای شي) د هوایی شرکتونو د الوتکو او ترانسپورتي وسائلو د ځای ښودلو لپاره استعمالیږي او...

د جي پي ایس سپوږمکی (سټلایټ) دورځې په جریان کې دوه ځله د ځمکې  له  مدار څخه څرخي او ځمکې ته معلوماتي سیګنلونه لیږدوي. جي پي ایس سستم له دریو برخو څخه جوړ شو ي .

لومړی برخه یې ۲۴ سټلایټونه تشکیلوي چې د ځمکې له سطحې څخه ۲۰۰۰۰ کیلومټره لیري واټن کې ۲۴ ساعته څرخي، یعني هره سپوږمکی په ۱۲ ساعته کې یو وار له ځمکې نه راڅرخي ، ددې لپاره چې سپوږمکی د مځکې هره برخه تر پوښښ لاندې راولي په ٦ ګروپونو

وېشل شوې دي چې په هر ډله کې ۴ سپوږمکۍ دي ، او هر ډلې ته یوه خاصه تګلاره ټاکل شوې ده تر څو شپږ مدورې حلقې د ځمکې ټوله شاوخوا تر پوښښ لاندې راولي .

د جي پي ايس دوهمه برخه ځمکنۍ دسګاه ده چې له یوه رسيور(Receiver) او یوه انتن څخه جوړه ده . او د نورو معلوماتي وسایلو په څېر معلومات خپل مرکز ته لېږدوي . دا انتن له سپوږمکيو سيګنلونه تر لاسه کوي،او هرې برخې ته خپل معلومات لېږدوي ، دا سيګنلونه وروسته په دوو چېنلونو وېشل کيږي ، چې کله سيګنلونه سره جلا شي . رسيور جغرافيايي موقعيت رامنځ ته کوي .

دريمه برخه يې معلوماتي مرکز يا Data Center دی دا مرکز جي پی ايس کنټرولوي ، او د خپل سپر کمپيوټر په کارولو سره په نړۍ کې د جي پي ايس له دسګاؤ نه معلومات راټولوي تجزيه کوي يې، تر څو له نورو عامو معلوماتو سره يو ځای وځېړل شي.
جي پي ايس د بېلا بېلو بنسټونو لخوا ځارل کيږي . ډرون هم کولای شي هر قسم جي پي ايس که دسګاه وي او که په مبايل کې موقعيت يې ليدلای شي .

د جي پي ايس سپوږميز (سټلايټ) سيستم

د جي پي ايس فضايي برخه د ۲۴ سپوږمکيو (سټلايټونو) څخه جوړه شوې چې د ۱۲۰۰۰ مايلو په شاوخوا کې د ځمکې څخه ليرې په څرخيدو دي. دا سپوږمکۍ هر وخت د حرکت په حال کې دي او د ۲۴ ساعتونو څخه کمه موده کې د ځمکې د مدار څخه دوه ځله څرخي او يا د ٦۰۰۰ کيلومتره شاو خوا په يو ساعت کې ګرځي.

د جي پي ایس سپوږمکۍ (سټلایټونه) د لمریزې انرژۍ څخه کار اخلي او که کله لمریزه انرژۍ کمه یا نه وي نو د ځای پر ځای شویو بطریو د انرژۍڅخه کار اخلي.



جي پي ایس دوه قسمه دی یو هغه چې ستاسو موقعیت سمدستي ریسیور ته لیږدوي چې دا ۴ انچو په اندازه وي او کولای شي په هر ۲۰ یا ۳۰ ثانیو کې خپل موقعیت خپل ریسیور ته لیږدوي چې ، له هغه ځای نه یې څارونکي کولای شي په ژوندی بڼه وګوري او په نقشه باندې ورته ستاسو موقعیت ښکاره شي . دا جي پي ایس ډوایس په جي پي ایس ډېټکټر یا هغه آله چې جي پي ایس کشف کوي کشف کېدلای.




دوهم قسم یې چې له دېنه لږ کوچني دي په ژوندۍ بڼه خپل موقعیت نه لیږي بلکې هر هغه ځای خوندي کوي چې چېرې تاسو ځئ وروسته ایښودنکی مجبور دی چې ور وایې خلي تر څو هغه ځایونه وګوري چې تاسو ورنه لیدل کړي .



جي پي ایس تر موټر لاندې


س: گرځنده یا هغه جي پي ایس چې په موټر وغیره پسې نښلول کیږي او کولای شي په ژوند بڼه خپل موقعیت څارونکي ته لیږي څنګه کار کوي؟

ج: لومړی جي پي ایس له سټلایټ سره رابطه ټینګوي ، وروسته تر ټولو نږدې د ټیلیفون له خادې یاتمبې سره رابطه ټینګوي چې له هغه ځایه بیا د جي پي ایس مرکز ته هغه معلومات لیږدول کیږي چې له جي پي ایس نه ترلاسه شوي وي ، له هغه ځایه بیا د انټرنټ په واسطه څارونکي کس ته لیږدول کیږي چې دا ټوله پروسه یواځې په یو څو ثانیو کې ترسره کیږي . د لا ډېر پوهاوي لپاره لاندې انځور وګورئ.



بعض هغه ځایونه چې عموما  جي پي ایس پکې کېښودل کیږي .

هغه ځایونه چې عموما جي پي ایس پکې ځای پرځای کیږي




همدارنګه په موټر سایکل کې تر ټانکۍ لاندې ، تر سیټ لاندې له بیټرۍ سره ، د شاپه بتۍ کې او داسې نورو ځایونو کې یوځای کیږي .

په کورونو  کې عموما د کور پر بام د باندې دیوال بېخ ته ،  د تشنابونو پر سر ، له لویې دروازې سره او داسې نورو ځایونو کې ښودل کیږي .

په خونه کې بیا د برق بورډ د کتابونو الماری ، په ساعت کې ، د جامو تر الماری یا صندوق لاندې ، د دروازې په چوکاټ کې ، د تشناب له دروازې سره ،  او پورته د بام پر سر باندې ښودل کیږي ،

یادونه : په دې ځایونو کې عموما د جاسوسي لپاره پټ میکروفونه او وړې کامرې هم ځای پر ځای کیږي .

## ټیلیفون

دا چې نن سبا د ټیلیفون له ضرورته هیڅوک انکار نشي کولای بلکه دا راته ناممکن برېښي چې موږ دي له ټیلیفون بغیر خپل جهادي کارونه پرمخ بوځو، په دې کې موږ ټیلیفون د ځان یو ډېر ښه معاون ګڼو خو بلخوا هم دا ټیلیفون زموږ تر ټولو لوی جاسوس هم کیدای شي. که یې په سمه توګه استعمال نکړو، د ځان او ملګرو د شهادت سبب مو هم همدا ټیلیفون دي. امریکا او اتلافیان یې د نړۍ د ټیلیفوني اړیکو په څارولو لګیا دي چې هر نوع ټیلیفوني اړیکې او مسیجونه له ځان سره ثبت کوي. نن سبا دټیلیفون اړیکې هغه که مسیجونه وي او که صوتي کالونه ټول ریکارډ کیږي او د ځانګړو سافټویرونو په ذریعه ورته مخصوص الفاظ ټاکل کیږي، چې د هغو الفاظو محمول کالونه له نورو بېلوي مثلا دوی خپل سافټوېر ته د جهاد لفظ ورکړي نو که په کومو کالونو کې د جهاد لفظ راشي سافټویر هغه ډایرک بېلوي او انساني تخنیکارانو ته یې لیږي تر څو هغوی یې واوري او فیصله وکړي چې ددوی په ګټه دی او کنه. همدا رنګه مسیجونه هم غیر محفوظ دي هر SMS ساتل کیږي او د ځانګړو سافټوېرونو په ذریعه لټون پکې کېدلای شي تر څو د مخصوصو الفاظو لرونکي مسیجونه (جهاد،مجاهد،موټربم، استشهادي وغیره ترېنه را بېل کړي.

دا چې څنګه کولای شو پوه شو چې موبایل مو څارل کیږي یا مو خبرې اورېدل کیږي،او یا څارونکی او جاسوس زموږ له مبایل نه کوم قسم ګټه پورته کولای شي. په لاندې ډول دي

د مبایل د څارل کیدو نښې نښانې

- د خبرو پرو مهال د بیف بیف ، ټک ټک  د راډیو فریکونسي آواز یا بېرته خپل آواز اورئ او د مخاطب کس اواز درته دوه ځله راځي نو ستاسو دوو په خبرو کې کوم دریم کس هم شریک ده چې ستاسو په منځ کې کېدونکې خبرې اوري.
- موبایل مو پخپل سر چالانیږي او بندیږي.
- موبایل مو ډېر زیات گرمېږي، داکله د بېټری د خرابېدو وجه هم کیدلای شي خو که بیټری مو هم ورته نوې اچولې وي او بیا هم گرمیږي نو خبره د فکر وړ ده.
- موبایل مو یواځې په یو خاص وخت کې گرمیږي.
- موبایل ته مو له نامعلومو شمېرو نه ویل کېدونکې مسیجونه راځي، دا هم ښکار نښه ده ځکه دا مسیجونه د جاسوسي سافټویر دي چې ستاسو مبایل ته د ځانگړو الفاظو په واسطه کوډونه ورکوي تر څو هغه څه ترسره کړي چې جاسوس آپلیکېشن ورته وایی.
- موبایل مو ډېر زیات انټرنیټ مصرفوي. که مو انټرنېټ ډېر ژر ختمیږي دا هم ستاسو د مبایل یا کمپیوټر د هېک کېدو نښه کېدای شي ځکه جاسوسي سافټویرونه خپل جمع کړای شوي معلومات لکه  SMS،عکسونه، ویډیو، د میکرفون له لارې ریکارډ شوي آوازونه یا کیدای شي په ژوندی بڼه مو میکروفون یا کمره چالانه وي او هرڅه چې کوئ یا یې وایاست مو څارونکي کس ته لیږدوي.

د مبایل له جاسوسي نه ځان ساتل

- په لومړي قدم کې دا ضروري ده چې هیچا ته دا اجازه مه ورکوئ تر څو مو مبایل یا کمپیوټر ته خپل سیم کارډ،میموري او یا یو ایس بي ورواچوي، ځکه کیدای شي هغه ستاسو موبایل ته جاسوسي کونکي کوډ او سافټوېر انتقال کړي، حتی داسې چیپونه او میموري کارډونه لا شته چې یواځې د څو ثانیو لپاره یې مبایل او کمپیوټر ته وصل کړه او بیرته یې ورنه وباسه په دې ۱۰ یا ۲۰ ثانیو کې دی جاسوسي کونکی سافټویر چې یواځې د څو MBپه اندازه وي ستاسو مبایل او کمپیوټر ته انتقال کړي. چې پدې سره جاسوس کولای شي هر هغه څه چې موږ یې پخپله د کمپیوټر مخې ته ترسره کولای شو، دي یې له په کیلومیټرونو لرې فاصله کې وکړي، خپل مهم فایلونه،عکسونه ویډیو نمبرونه وغیره... مو ډاونلوډ کړي د مبایل یا کمپیوټر د کامرې او میکروفون له لارې مو حرکات او خبرې وخاري زموږ موقعیت په مبایل کې د وصل جي پی ایس له لارې معلوم کړي، کولای شي زموږ ده مبایل IMEI نمبر پیدا او خپل څارونکي ته ولیږدوي دا هغه ته دا واک ورکوي تر څو که تاسو هغه سیم بدل کړئ هم جاسوس ته معلومیږي چې مبایل هغه ده صرف سیم بدل شوي، په داسې حالت کې د مبایل بدلول ضروري دي وغیره...
- هیچا ته دا اجازه مه ورکوئ چې ستاسو مبایل یا کمپیوټر ته ستاسو له اجازته پرته کوم داسې سافټویر چې باوري نه وي ډاونلوډ او انسټال کړي، ځکه نن سبا تقریبا ٪۹۰

سافټویرونه د خپلو استعمالونکو محرم معلومات له ځان سره ساتي.

- د کار په ټیلیفون کې مو فیسبوک قطعا مه استعمالوئ،ځکه فیسبوک د امریکایانو یو هغه جال دی چې ټول پکې نښتي دي،فیسبوک زموږ هره خبره چې شاوخوا مو څه کیږي،هغه ځای چې ځو ورته،هغه خبرې چې په مبایل یې له بل چا سره کووهغه او وخت یې یې SMS وغیره... هرڅه ریکارډ کوي او خپل سرور ته یې لیږدوي.
- د لا خوندي اړیکو لپاره باید له ټیلیګرام او سیګنال آپلیکېشن څخه ګټه واخیستل شي.ځکه واټساپ هم اوس د فیسبوک ملکیت ده او خپل Source Codeنه نشروي تر څو موږ پوه شو چې واټساپ زموږ جاسوسي کوي او کنه خو دا معلومه خبره ده چې واټساپ مو هره شمېره چې په مبایل کې مو وي یا په کوم وخت ورسره اړیکو نیسو څومره وخت مو ورسره خبرې وکړې وغیره دا هرڅه له ځان سره ساتي،دا چاره د فیسبوک کمپنۍ له طرفه جوړ شوي اپلیکېشنونه لکه مسنجر،فیسبوک،لایټ فیسبوک وغیره ترسره کوي.
- د خپل حفاظت د یقیني کولو لپاره باید په مبایل او کمپیوټر کې قوي انټي وایرس لکه ESET ،Norton،bull guard نه استفاده وکړئ که کولای شئ د وینډوز پر ځای لینکس آپرېټنګ سسټم استعمال کړئ، ځکه هیڅ قسم وایرس وربانديې اثر نکوي. او تاسو ته مکمله آزادي درکوي.
- د خپل ځان او موبایل د پټ ساتلو لپاره تل له VPN څخه استفاده وکړئ ځکه دا تاسو ته د انټرنټ درکونکې کمپنې تر

منځ رابطه پرې کوي او اجازه نه ورکوي تر څو ستاسو محرم معلومات تر لاسه کړي. تر ټولو ښه يې NORD VPN دی بيا په ترتيب سره Cyber Ghostاو Express VPN دي.

که پوه شوئ چې موبايل مو څارل کيږي نو...

- له مبايل نه مو بېټرى وباسئ هغه ټيليفون هيڅ کله هم مه استعمالوئ چې بېټرى يې نه وځي.
- مبايل مو RESTORکړئ تر څو هغه ټول کوډونه او سافټوېرونه چې پکې دي پکې ختم شي. او مبايل مو عادي حالت ته راوگرځي.
- مشرانو ته پکار دي چې تر شپږو مياشتې زيات يو مبايل استعمال نکړي، د لاخوندي توب لپاره پکې سيم هم بايد وانچول شي بلکې پرځاى يې له گرځنده وايفاى نه کار واخيستل شي.
- زوړ مبايل بايد ضائع کړي ځکه که له مبايل نه هر شی ډليټ شي له استخباراتي ادارو سره داسې سافټويرونه او آلات موجود دي چې کولاى شي هر هغه څه چې ددې مبايل په واسطه ترسره شوي وي بېرته راوگرځوي، که مبايل ريسټور شي هم.
- د ا حتياط تقاضا داده چې په خپل منځ کې د رابطي په صوتي مسيجونه ونشي، پرځاى يې له ليکلي مسيج نه کار واخيستل شي. داليکل هم بايد مخصوصه بڼه ولري. مثلا له هرو دريو حروفو وروسته يو ټکى ولگول شي په ابتداء کې يو شفري نوم وليکل شي دا نوم بايد په هره

میاشت کې بدل شي، په خط کې باید یوه یا دوې داسې اشارې خامخا موجودي وي چې تاسو وربانديې یو بل پېژني، مسیجونه باید تر یوې ورځې زیات ونه ساتل شي که کوم د کوم مسیج ساتل ډېر ضروري وي باید له اپلیکېشن نه لري شي په یو بل فایل کې ځان ته وساتل شي، یا یې عکس واخیستل شي او هغه محفوظ کړل شي، موبایل ته خامخا باید سخت پاسورډ لګېدلی وي، دا پاسورډ باید هره میاشت یا ۱۵ ورځې وروسته بدل شی. وغیره..........

- په حساسو حالاتو کې داسې مبایل باید قطعا نشي استعمال چې کشف وي، یا په داسي ساحه کې نشې استعمال چې هلته دوې یا درې د مبایل خادې(تمبې) موجودي وي ځکه دا تمبې کولای شي له خپل ځان ستاسو د مبایل فاصله معلومه کړي. او که دا درې یا څلور شي نو کولای شي ستاسو دقیق موقعیت په ګوته کړي.

**11/27/2018**

اللهم اغفر لکاتبه و قارئه

والله غالب علی أمره ولکن اکثر الناس لایعلمون۔ والحمدلله رب العالمین۔

اللهم اغفر لكاتبه و قارئه

## ماخذونه

ڈرون حملے اور انکا توڑ

بې پیلوټه

The predator

Wikipedia.com

مختلف اردو،عربي او انګلیسي سایټونه او کتابونه